# ځوانان اوسالمه روزنه

دسویډن په مالمو ښارکې دځوانانو دسالمي روزني څیړنیز سمینار

او

دهیواد نامتو مؤرخ

# کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني

داویایم پسرلی دپیل په ویاړ د څیړنغونډې

## د مقالوګډه ټولګه

**کتاب پېژندنه :**


دکتاب نوم : ځوانان او سالمه روزنه
څرنګوالی : دپوهنیز- څیړنیز سیمینار د مقالو ټولګه((بېلا بېل لیکوال ))
خپرندوی : ددوستۍ فرهنګي ټولنه
کمپوزر: هیواد شېرزاد
چاپ کال : ۱۳۸۶ل – ۲۰۰۷ م
چاپ شمېر : ۲۷۰ ټوکه
چاپ ځای: مالمو – سویډن Holmbergs



دچاپ حقوق دخپرندوی ټولنې سره خوندي دي.

**Download from:aghalibrary**

## لړ لیک


| ګڼه/سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| ۱. پیلامه | | ۴ |
| ۲. د کنفرانس پرانیستونکې وینا ، | حبیب الله غمخور | ۶ |
| ۳. پیام شورای افغانان مقیم دنمارک | | ۱۳ |
| ۴. د احمد شاه هوتکي پیغام | | ۱۴ |
| ۵. پیام انجمن دوستی لندن | | ۱۷ |
| ۶. د افغان ولس کلتوري ټولنې پیغام | | ۲۲ |
| ۷. پیام خلیل الله معروفی | | ۲۳ |
| ۸. د هدایت الله هدایت پیغام | | ۲۵ |
| ۹. د انجینر شبر ساپي پیغام | | ۲۶ |
| ۱۰. جوانان و حق آزادی انتخاب | م. ا. سیستانی | ۲۸ |
| ۱۱. ځوانان او ټولنه | هدایت الله هدایت | ۳۲ |
| ۱۲. د انسان د تکامل... | ډاکټر ظفر لرغون | ۳۵ |
| ۱۳. اروپایي چاپیریال او.... | پوهنمل محمد نوزادي | ۴۵ |
| ۱۴. کډوال ، کلتوري ستونزي... | پوهنوال رسول باوري | ۵۰ |
| ۱۵. ملي کلتور او مورنۍ ژبه | شهسوار سنګروال | ۵۶ |
| ۱۶. ایا زموږ ټول دودیز او..... | ولي شاه طبیب | ۶۳ |
| ۱۷. د ځوانانو کنفرانس ، | ان شمید | ۶۶ |
| ۱۸. م. ا. سیستاني د یو منلي... | حبیب الله غمخور | ۶۸ |
| ۱۹. پیام | داکتر محمد اکرم عثمان | ۷۹ |
| ۲۰. د افغاني ویاړونوزړه ورمدافع، ښاغلي سیستاني ... | محمد معصوم هوتک | ۸۲ |
| ۲۱. پیغام | ولي شاه طبیب | ۸۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۲. پیغام | د افغان ولس کلتوري ټولنه | ۸۶ |
| ۲۳. پیغام | ملالی موسی | ۸۷ |
| ۲۴. پیغام | سلام فرهنګي ټولنه | ۹۰ |
| ۲۵. پیغام | داکتر میرعبدالرحیم عزیز | ۹۲ |
| ۲۶. پیغام | ولی احمد نوری | ۹۴ |
| ۲۷. پیغام | خلیل الله معروفی | ۹۵ |
| ۲۸. د کاندیدن اکادمیسین م. ا. سیستاني ژوندلیک | حبیب الله غمخور | ۹۸ |
| ۲۹. روش تاریخ نگاری جناب سیستانی پوهاند | محمداسحاق نگارگر | ۱۰۲ |
| ۳۰. ترکوم ځایه چې زه سیستانی پېژنم | پوهاند دوکتور م. ا. زیار | ۱۰۷ |
| ۳۱. ستارۀ سیستان پروفیسر محمداعظم سیستانی | دکتور سید خلیل الله هاشمیان | ۱۱۳ |
| ۳۲. سیستاني ، وارث برزین مهرساکستان تاریخ ما | دوکتور خالق رشید ، | ۱۱۸ |
| ۳۳. د سیستان سیستانی ! | نجیب احمدزی- بلجیم | ۱۲۷ |
| ۳۴. د ښاغلي سیستاني د مننې وینا | | ۱۳۳ |
| ۳۵. د ښاغلي سیستاني د ژوندلیک سویډني ژباړه | | ۱۳۹ |
| ۳۶. د کنفرانس راپور | | ۱۴۱ |

# د پيلامې په توگه

ددوستۍ فرهنگي ټولنې لپاره دوياړ خبره ده چې دخپل موجوديت په لنډ عمر کښې دافغان کډوالودځوان نسل دسالمې روزنې او د هيواد د وتلي تاريخ پوه کانديد اکاديميسين محمد اعظم سيستاني د عمر د اويايم پسرلي د پيل په مناسبت د سويډن د مالمو په ښار کې د افغانانودعلمي اوفرهنگي مرکز په گډه همکارۍ ديوې درنې غونډې اوپوهنيزسيمينار دجوړېدو جوگه شوه.

ځوانان زموږ د ټولنې نن اوسبا جوړوي ددوی ژوند اوچاپېريال ته هراړخيزه پاملرنه په کورنۍ کې دوالدينو اوپه ټولنه کې ددولتي اړونده ارگانو او اجتماعي ټولنو پر غاړه ده.

دمالمو په ښارکې داعلمي اوپوهنيزسيمينار هغه وخت داير شوچې په افغانستان کې نا امنيو دزيات شمېر افغاني ځوانانو پر مخ دښوونځيو دروازې تړلې دي. له بلې خوا ډېر افغان ماشومان اوزلمي دخپلو کورنيو سره په پاکستان ، ايران اودنړۍ په يو شمېر نورو هيوادوکې دغربت اوکډوالۍ شپې او ورځې سبا کوي ، له همدې امله بې شمېره افغان ماشومان اوزلمي په ځينو هيوادوکې دتعليم اوتحصيل د امکاناتو څخه محروم پاته شوي دي .

په اروپايي هيوادو او په ځانگړې توگه د سويډن په هيوادکې د ماشومانو اوځوانانو لپاره دتعليم او تحصيل بهترين امکانات برابر دي . ددې لپاره چې افغان کډوال څنگه وکولای شي داروپايي هيوادو دتعليمي اوتحصيلي پراخو امکاناتو څخه اړينه اوپرځای گټه ترلاسه کړي ، او والدين دخپلو ماشومانو په روزنه کې څومره اوڅه ډول مکلفيتونه لري ، دغه اونورو ټکوته په نظر کې نيولو سره پرېکړه وشوه چې دافغاني

اوبهرنيو پوهانو په ګډون يو پوهنيز اوعلمي سيمينار ((دځوانان اوسالمه روزنه )) تر نامه لاندې جوړ شي.
په همدې ورځ دځوانانو په اړوند تر پوهنيزسيمينار وروسته دشپې لخوا د هيواد د وتلي تاريخ پوه اوغښتلي ليکوال کانديد اکاډميسين محمد اعظم سيستاني دعمر د اويايم پسرلي دپيل په مناسبت درنه غونډه جوړه شوه. په دې غونډه کې داروپايي هيوادوڅخه راغلو مېلمنو پوهانو او د فرهنګي ټولنو استازو دخپلو علمي ويناوپه طرځ کې د هيواد ددې پياوړي شخصيت د کار او زيار څخه درناوی څرګند کړي.
په دواړو غونډو کې له مختلفو هيوادوڅخه راغلو پوهانو اوليکوالو په زړه پورې مقالې ولوستلې اويوشمېر هغو ليکوالوچې دتخنيکي ستونزو له کبله يې ونشوه کولای په سيمينار او يادغونډه کې برخه واخلي خپلې ليکنې اوشننې رالېږلې وې چې په غونډو کې ولوستل شوې.
ددغه اثر دچاپ لپاره دسويډن دعلمي اوفرهنګي همکاريو((NBV)) ټولنې لخوا مرسته شوېده. موږ ددې ټولنې ددې فرهنګي او انسان دوستانه مرستې ته دقدر په سترګه ګورو، او ددوی په مالي مرسته برابر شوی کتاب په ټولنه نړۍ کې دځوان نسل دراتونکي ژوند مينه والو ته وړاندې کوو.
موږ هيله من يو چې ددغه اثر مقالې به ستاسوسره دځوانانو په اړوند دتحقيقاتي مسايلو په ليکلو، سپړلو اوپه هغه باندې دپوهېدوپه لار کې بهترين مرستندوی ټولګه وي.

په درنښت
ددوستۍ فرهنګي ټولنه
سويډن مالمو
۲۰۰۷ م کال

# دکنفرانس پرانیستونکې وینا!

په نامه دهغه خدای مې دا بیان دی

چې یو نوم یې په نومونو کې سبحان دی

اغلو او ښاغلو !

دنړۍ له مختلفو هیوادو نه راغلو پوهانو ، فرهنګیانو او درنو میلمنو !

زموږ دنن ورځي په کنفرانس کښي دګډون له امله تاسوته دزړه له کومي هرکلی او ښه راغلاست وایم.

دوستان ومهمانان عزیز وګرامي !




تشریف اوري شمارا بخاطر اشتراک درکنفرانس علمي امروزي از صمیم قلب خیرمقدم ګفته ،امیدوارم خاطرات خوب وفراموش ناشدني ازاین کنفرانس باخود داشته باشید .

زموږ لپاره دویاړ ځای دی چي زموږ سره د مختلفو هیوادونه راغلي افغان روڼ اندي او د سویډن دمالمو دښار د دولتي او فرهنګي ادارو استازي د کنفرانس په غونډه کښي برخه لري .
غواړم په خوښۍ او د کورودانۍ په ویلو سره یادونه وکړم پدې درنه غونډه کې له انګلستان ،بلجیم ، جرمني ، فنلنډ ، هالنډ ،ډنمارک ، دسویډن په هیواد کښي له استکهلم ،ګوتنبورګ ،اوپسالا ،لاندس کرونا ،لوند ،هلسنبوري ، ارلوف اونورو سیمو نه دافغاني فرهنګي ټولنو مشرتابه جرګو استازي او مستقل شخصیتونه دمالمو دښار دښاري شورا استازی ،دمالمو دښار دهیلي دناحي دانتګریشن داداري استازي ،د NBV ، ABF ،MKB دادارو استازي اودکنفرانس مینه وال ګډون لري ،پدي درنه غونډه کي ستاسو ګډون دځوان نسل ژوند سره دزیاتي علاقي بهترینه بیلګه ده.
دمننې په څرګنده ولو سره یادونه کوم چې دهمدي کنفرانس په نامه دمحترم هدایت اله هدایت له استرالیا ، پوهنوال رسول باوري له هالنډنه ، ښاغلي شریف بهاند اوانجینر شیر محمد صافي له جرمني ، ولي شاه طبیب له قندهار نه ، اویو شمیر نورودوستانو عالمانه لیکني اومقالې رالیږلي دي ، همدا ډول انجمن دوستي افغان له انګلستان ، شورای افغانها مقیم دنمارک ،پیاوړې لیکوال خلیل اله معروفي له المان څخه خپل پیغامونه رالیږلي دي چي دوخت دکمښت له امله به دټولو لوستل ناشونی وي ، دپاتي کسانو نومونه او مکملي لیکني به دکنفرانس په عمومي خبر کښي دانترنت پاڼو په مخ خپرې شي . یو ځل بیا له دغو درنو هیواد والو او فرهنګي ټولنو دمشرتابه نه په افغاني مینه او انساني احساس مننه کولو سره غواړم څرګنده کړم چې ددغو شخصیتونو او فرهنګي ټولنو دبي ساري ملاتړ او هڅوني نه پرته دداډول درنو او علمي غونډو جوړول ناشونی کار دی.

د قدر وړ میلمنو !
واقیعت خو دادئ چي تاسو په خپل ګډون سره په ځانګړې توګه هغو درنو میلنو اودوستانو چې د سفر د ټول ستونزو په منلو سره یې په خپل راتګ موږ ته ویاړ راوبخښه ، اوموږ یې نور هم وهڅولو چي دافغاني کلتور دپیاوړتیا او ځوان نسل سالمي روزنې ته د لازمې پاملرني راواړولو په منظور دداډول علمي او فرهنګي غونډود جوړیدو جوګه شو.
غوارم په سویډن کي دافغانانو دعلمي او فرهنګي مرکز او دوستۍ فرهنګي ټولنې لخوا دټولو هغو ادارو او مؤسسو اوددي ټولنو له درنو غړو نه مننه وکړم کوم چې زموږ سره یې ددې درانه علمي کنفرانس ددواړو برخو په جوړېدو کښي هراړخیزه مادي او معنوي مرستي کړې دي.
اغلواو ښاغلو !
ځوان نسل زموږ دټولني راتلونکې جوړوي ،په بل عبارت ویلاي شم چي ځوان نسل دبشري ټولني مادي او معنوي تهداب دی. ددي خبري دثبوت لپاره لنډ دومره ویلاي شم چې که دنوي نسل سالمي روزني ته پاملرنه نه واي شوې دتمدن ددغه اثارموجودیت او داوسنۍ نړئ پر مختګ ناشونئ و ، دا یو څرګند حقیقت دی چي دنوی نسل روزنه په فطری توګه دانسان په لومړې قدم کې د(( مور او پلار )) دنده اومسؤلیت ټاکل شوی دی په عامیانه اصطلاح دایې په ختمه کښې اخښل شوې ده چي خپل اولاد و روزي.
مګر اړینه خبره داده چې یوازي دوالدینو طبعي پاملرنه او روزنه دسالم ځوان نسل دلرلو لپاره کفایت نه کوي ، همدا دلیل دی چي دماشومانو اوتنکي ځوانانو دسالمي روزنې لپاره معینو علمي او دولتي انستیتیوتونو ته دنده سپارل کیږې. په هره اندازه چې مادي او معنوي منابع دځوانسل د سالمي روزني لپاره ولګېږي په هغه اندازه یوه ټولنه دپرمختګ په ټولو پیچومو کښي ګړندۍ پر مخ درومې.

تر کومه ځایه چې په او سنۍ نړۍ کښې ټولنیز عدالت له جدي ګواښ سره مخامخ دئ او دهغه عملي پلي کول به له بدمرغه تر ډیره وخته دکاغذ پر مخ پاته کیږې ، دهمدې علمي اصل پر اساس باید پدې ټکي هر څوک پوه وي چې دشتو خاوندان (بډایان) په هیڅ ډول زیاته علاقه نلري چې دټولني غوڅ اکثریت زلمی دي باسواده او ترسالمي روزني لاندي ونیول شي ، هغوي دعالي او مسلکي تحصیلاتو دیپلومونه ترلاسه کړي ؛ همدا وجه ده چې دوي دزیات تولید لپاره دتولید دوسایلو پر مډرنیزه کېدو زیات فشار اچوي او دهغه سره علاقه لري ، تر څو دلږو کارمندانو په استخدام سره زیات محصولات تولید کړي . دتخنیک دپرمختګ او مډرنیزه کیدو لپاره پانګوال زیاتو مغذوته اړتیا نلري . داچي ټولنه په کومه ستونزو اخته ده، ځوانان دڅه حوادثو قرباني کیږي ددوي لپاره دومره جالبه خبره نده ، نه علاقه لري او نه غواړې پدي لار کښې زیاتي پیسي ولګوې . ددغه عیني اړتیا اوبشري مسولیت له مخي دټولو سیاسي ، ټولنیزو او فرهنګي کړیو ملي او انساني دنده ده چې ددغې ټولنیزي بې عدالتۍ په پوهېدو دهغې په مقابل کښې دمخالفت په څرګندولو سره دځوان نسل سالمي روزني ته ځانګړې پاملرنه وکړې . که دبشري ټولني غوڅ اکثریت پدي وتوانیږې چې راتلونکۍ نسل په علمي پوهه ، دملي مسؤلیتونو او انساني حقوقو ددرک اودرناوی په روحیه وروزي په هغه اندازه به ددمځکي دکري له زیاتې برخې څخه د دي بشري ناورین او ټولنیزوناخوالو پېڅول مخ پر ټولېدو وي..

ځانو ته په ګوت نیوني سره باید عرض کړم ، داخبره ټولو ته څرګنده ده کله چې والدین وغواړي اولادونه یې دننه په هیوادکي عالي تحصیلات وکړي او یا یې بهر ولیږي لږ تر لږه زموږ په هیواد کې باید رشوت ورکړي په پوره باور ویلاي شم چي په نورو هیوادو کښي هم همدا ناتار دئ ، زورونکې خبره داده اوس چي دافغانستان په پرتله په بهر کي او سیدونکو زلموته

دتحصیل امکانات برابر دي بیا هم دعالي تحصیلاتو په مؤسسو کښي دافغاني او بهرني زلمو شمیر ډیر لږ دی. د ښوونځي تر فراغت وروسته ددي پر ځاي چې دکانکور په ازموینه کي دبریالیتوب خبر ته منتظر واي ، سمدستي دکار پیدا کولو ځایو ته مراجعه کوي ، او دبیکارانو په لست کښي ځان ثبتوي . که بخت یاري ورسره وکړه دهغوي لخوا داسي دنده ورسپارل کیږي چې نه باید دهغې په سرته رسولو قانع شوی واي ، داچي لوړ تحصیلات نلري طبعي ده چي دهري بلي دندي سرته رسولو ته اماده کیږي. له بلې خوا زړه بوږنونکي لا داده چې دلته دهرې ورځي په تیریدو سره دناصالحو ځوانانو قطار اوږدیږي ، چي دهغي پر پایله په کورنۍ او ټولنه کښي یو بل سردردونکی پرابلم چې ورته کورنۍ او ټولنیز تاوتریخوالۍ ویلاي شو رازیږي.

د کنفرانس له جوړیدونه زموږ موخه هم همدا ده چي والدین او ځوانان دغه اساسي ټکي ته په پاملرني سره چې ولي دلته دیواندازه مالي اومادي امکاناتو په لرلو سره مور او پلار ځوانان دعالي تحصیلاتو تر سره کولو ته نشي هڅولاي؟ او ولي ځوانان دعالي تحصیلاتو دترلاسه کولو لیوال نه دي ؟

که زموږ ځوانان دلته سالمه علمي او مسلکي روزنه ترلاسه کړي کیداي شي دوي دخپل پلارني هیواد په بیا جوړونه کښي دبهرنیو متخصیصینو په عوض کار وکړي ،گټه به یې داوي چې یو به دوي له بیکارۍ نه خلاص وي او بل به هیواد وال چي دسرمایداري هیوادولخوا دمرستو په نامه تر خولې په قرضونو کې ډوبیږي او همداپیسې بیرته دخارجي ماهرانو پر ډیرو معاشو او مصارفو لگیږي له دغه ملا ماتونکی بار نه خلاص وي . دبیلگې په توگه کیداي شي له ځانو نه سوال وکړو ولي زموږ هیواد پر ټول بشري ناورین سربیره دپردیو هیوادو په هغو قرضونو کښي تر ستوني ډوب شي کوم چې زیاته برخه یي

دماهرانو پـه لـسگونو زره ډالـرو معاشو پـه نامـه بیرتـه لـه افغانـستان څخـه وځي ؟
وطنپرستي او له هیواد سره مینه یوازي په چیو او راسته شعارونو نشي ثرگندیداي ، بلکه هره هغه هڅه چې پایله یې دهیواد اوهیوادوالو سره مادي یامعنوي مرسته وي دوطنپرستۍ بهترینه بېلگه کېداي شي.
زما په نظر دا ډېره دردونکې ده چې په بهر کي زلمي (( ۹۰ )) په سلو کښي یوازي دښوونځې په خلاصیدو قناعت وکړي ، اړینه یې بولم په هر ډول چې کیږي والدین خپل اولادونه دعالي اومسلکي تحصیلاتو ترسره کولوته وهڅوي ، داکارشونی دی ځکه داسي فامیلونه شته چې اولادونه یې عالي تحصیلات کوي ، یا داچې همدا اوس په سویډن کې له نیکه مرغه دنوروقومونو دځوانانو په پرتله افغاني زلمي دښه نوم خاوندان او ددې ټولني دژوند نورمالي پروسې لپاره یي ستونزي ندي پیداکړي.
اوس موږ دلته اوسو ، زموږ دحقوقي موقیعت او مصؤلیت له مخي که ځوانان وهڅول شي چي دافغانستان او سویډن دهیوادوپه سیاسي ، اقتصادي ، فرهنگي او ټولنیزوچاروکښي فعاله ونډه ولري دابه ستر خدمت وي. که کډوال ځوانان لوړ او مسلکي تحصیل ونلري طبعي ده چې په راتلونکي کښي به په یوه اډیاله ډموکراتیکه ټولنه کښي دومره کټگوری وگړي نه وي.
نن زما موخه دځانگړېو مسؤلیتونو له مخي ددې ژورې حیاتي موضع څېړل نه دي ، تنها ددغو څو ټکو په څرگندولو سره مي غوښتل دغونډې درنوبرخه والو پاملرنه ددې ستر او تاریخي مسؤلیت سالم درک اودهغه تر سره کولو ته راواړوم. پدې پوره باور لرم چې دغونډې برخه وال به زموږ ددرنو پوهانو او څېړونکو دتحقیقا تي مقالوله اورېدونه پس دموضوع وحسا سیت او ارزښت ته متوجه شي. دهمدې ټکي په درک کولو سره دټولني مشرتابه دا وپتیله چې دا ډول کنفرانس جوړ اود درنو پوهانونه

دکنفرانس په کار کي برخي اخیستلو غوښتنه وکړې ؛ ډیر خوښ یو چي نن دغې موخي ته په رسېدو سره ددې علمي کنفرانس ددایرېدو امکانات برابر شول.
زه دغونډې ټولو ګډون کونکو ته دکنفرانس په کار کښي دلازیاتو بریاو هیله کوم .
پاته دي نه وي چې زه نن تاسي دشپې تر ډوډۍ خوړلو وروسته یوې بلې فرهنګي غونډې ته رابولم کوم چې زموږ دهیواد دویاړلي او پېژندل شوي مؤرخ ،څېړونکی او لیکوال کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني په ویاړ جوړېږي . مننه



*د غونډې یوه ځنډه*

پیام شورای افغانان مقیم دنمارک به کنفرانس علمی

# نسل جوان و پرورش سالم

عزیزان و دوستان منسوب به مرکز علمی- فرهنگی افغانان در سویدن !
مراتب شادباشها و آرزوهای نیک اعضای شورای افغانان مقیم دنمارک را بخاطر تدویر کنفرانس بزرگ علمی در رابطه نسل آینده ساز یعنی جوانان ، بپذیرید . یقینا "کنفرانس امروزی که معضله پرورش سالم جوانان را به بررسی گرفته است از ارزش بزرگی برخوردار است. همانگونه که همه میدانیم جوانان سرمایه بزرگ مادی و معنوی هر جامعه بشمار میاید و مایه خرسندی است که مرکز علمی- فرهنگی افغانان در سویدن با توجه به این امربزرگ ، پیشقدم شده ، کنفرانسی را در زمینه راه انداخته اند .
حوادث سه دهه اخیر و تداوم جنگ در کشور متاسفانه ضربات خیلی عظیم برجوانان ما وارد آورده است. جوانان ما در تالاب خون رشد کرده و پرورش یافته اند . آفت جنگ هست و بود اکثر قریب به اتفاق آنانرا از نزد شان ربوده است. اثرات روانی ناشی از جنگ بر جوانان ما شدیدا "عمیق و زیانبار است. کمتر جوانی را در داخل وطن ویا بیرون از آن میتوان سراغ کرد که به نحوی از انحا ضربه روانی ندیده و با مشکلی ازین ناحیه روبرو نباشد . شورای افغانان مقیم دنمارک باوردارد که کنفرانس علمی امروز جهات گوناگون مساله برخورد با جوانان و چگونگی پرورش آنانرا ، بطور خاص مساله انتیگریشن جوانان در محیط جدید وارتباط آنانرا با مادر وطن مورد بررسی قرار داده ، راههای مطلوب پرورش سالم را جستجو خواهد کرد . شایان ذکر است که ارجگذاری به کار ها و نوشته های تحقیقی محقق و تاریخ نگاربنام و بزرگ کشور ما کاندیدای اکادیمیسین ، جناب محترم محمد اعظم سیستانی که بخش دیگر کار کنفرانس است ، ارزش علمی و فرهنگی کنفرانس را بالاتر و والاتر ساخته است. چقدر

بایسته و شایسته به نظر میاید که از بزرگان علم وفن خویش در دوره حیات شان قدر دانی به عمل آوریم که جناب سیستانی صاحب با آفریده های بزرگ علمی شان از زمره چنین شخصیتهای قابل حرمت هستند .
در پایان آرزو میکنیم، دوست عزیز ما آقای حبیب الله «غمخور» مسوول مرگزعلمی -فرهنگی افغانان در سویدن و سایر همکاران شان در تدویر همچو نشستها و محافل علمی موفق و کامگار باشند .
با تنمیات نیک و دوستانه ، شورای افغانان مقیم دنمارک 25-11-2006

---

احمد شاه هوتکي

# په سویډن کې د (( ځوان نسل او سالمه روزنې )) د علمي او ښوونیز کنفرانس ته

داچې ستاسو په نوښت د ( ځوان نسل او سالمه روزنه ) تر نامه لاندی علمی او ښوونیز کنفرانس د رابللو تکل کړی دی، دا یو ډیر پرځای او د ضرورت وړ کار دی، زموږ ځوانان په هجرت کې سالمی روزنې ته جدی اړتیا لری، ځکه د خپل وطن او د هجرت روزنه فرق کوی، کورنی هڅه کوی چې خپل اولادونو ته سالمه روزنه ورکړی ، چې دا کار په خپل وطن کې زیات آسان دی اما په هجرت کې چې په بل هیواد کې ژوند کوی څه ستونزمن وی. څو ځینی بیا داسی کورنی وی چې څه فرق نه وی پر راغلی. نو دغه کنفرانس یو ډیر ارزښتناک کنفرانس دی او مهم ټکی ته ځانکړی سوی دی. موږ د دې کنفرانس بریالیتوب د لویه خدای(ج) غواړو.

تکړه لیکوال او ژورنالیست ښاغلي حبیب الله غمخور
په سویډن کې د افغانانو د علمی او فرهنگی مرکز مشر !
سلام علیکم !
هیله من یم چې روغ او جوړ اوسی.
دا چې ستاسو په نوښت او ابتکار په سویډن کې د افغانستان د پیاوړی لیکوال، څیړونکی ، تاریخ پوه، کاندید اکادمیسین ښاغلي اعظم سیستانی د علمي او څیړنیزو خدمتونو د ستاینې او قدر په ویاړد پرتمینې غونډی دجوړیدو په درشل کې یاست دا مو یو پرځای او د قدر وړ اقدام دی.
کاندید اکادمیسین ښاغلي سیستانی د افغانستان هغه ځلانده څیره ده چې د هغه په هکله څه ویل یا لیکل به گران وی او ډیر تحقیق او څیړنه غواړی . ښاغلي سیستانی هغه پر هیواد مین افغان دی چې همیشه یې د افغانستان د ملی منافعو دپاره قلم کښلی او دفاع یې کړیده، او د هیواد د پیښو واقعیتو نه یې په مستند او علمی ډول څیړلی او هغه یې په گوته کړی دی ښاغلي سیستانی همیشه د مغرضو او نفاق اچونکو څیړی رسوا او په علمی دلایلو یې غابښ ماتونکی ځواب ورکړی دی .
سیستانی صاحب د دغسی یو لمانځی وړ بولم او باید ونازول سی چې دا اوسنی غونډه یې ثبوت دی.
دا تر لمر سپینه ده چې ښاغلي اعظم سیستاني د خپل ژوند اوږده موده د هېواد او هېوادوالو په علمي او عملي خدمت کې تیره کړې ده ، حتی نن هم په خپل دې سن او عمر کې چې باید آرام یې کړی وای هغه آرام نه کوی او د افغانستان او افغانانو غم پرې غالب دی او په ټینگه لگیا دی خپل نوښتگر مغز د خپل خورا اغیزمن قلم له لاری تر ملي منافعو قربانوي او د هېواد د ملي واکمنۍ او ملي یووالی د ویاړلی مبارزې یو مخکښ علمبردار ثابت سویدی .

ځنګه چې ښاغلي اعظم سیستانی د افغانستان ، افغان ولس او افغاني تاریخ یو منلی خادم پیژندل سوی نو داسې ښکاری چې د ده دا ملي مبارزه او علمي ـ عملي خدمت به د هر افغان په زړه کې تلپاته مقام ولری او تاریخ به دا ملي شخصیت په خپلو زرینو پاڼو کې ثبت کاندی.
نو قدرمن سیستاني صاحب ، ستاسي دغه علمي او عملي خدمت دی پر تاسو او پر افغان رنځیدلی ولس باندې نیکمرغه وی ځو چې افغاني تاریخ ژوندئ وی تاسی به هم ژوندي یاست .
ښاغلي سیستانی صاحب ته جوړ صحت او اوږد عمر له خدای(ج ) غواړم. پر قلم دې برکت سی.
افغان رساله ستاسې د دې نیک اقدام ستاینه کوی چې د یوې غونډې په رابللو سره د کاندید اکادمیسین ښاغلي اعظم سیستاني د عملي خدمت یادو نه کوی. په دې لار کې د لوی خدای (ج ) له درباره نور بریالیتوبونه هم درته غواړم. په درنښت

احمدشاه هوتکي

د افغان رسالې / افغان پوست مشر

ټورنتو ـ کاناډا ، د ۲۰۰۶ کال د نومبر ۲۵ مه

## پیام انجمن دوستی افغان (لندن)

به اشتراک کنندگان کنفرانس علمی "نسل جوان و پرورش سالم آن"

حضار گرانقدر، خواهران و برادران و اشتراک کنندگان محفل باشکوه امروزی، سلام!

راه اندازی کار های فرهنگی در شوریده زار غربت هم دل و گرده می خواهد. نامتجانس بودن محیط کاری، تسلط فضای نامساعد ذهنی، نبود فهم و دانش لازم در استفاده از دستاورد های علم و تخنیک- بخصوص نزد نسل در حال انقراض، محدودیت فکری و کوتاه اندیشی و بالاتر از همه، کم علاقه گی، بی تفاوتی و کم بها دادن به کار های علمی، ادبی و فرهنگی، دشواری هایی است در برابر اهل اندیشه و قلم.

با آن هم، خوشبختانه گاه گاهی از گوشه و کنار این غربتکده آوایی و حرکتی از جانب خادمان صادق و فریفتگان علم و فرهنگ بلند می شود که خود غنیمتی است بزرگ و کاری است شایسته.

در این راستا، یکی هم تدویر کنفرانس علمی تحت عنوان "نسل جوان و پرورش سالم آن" است که به همت جمعی از فرهنگیان هموطن مقیم اروپا به همکاری مرکز علمی و فرهنگی افغانان در کشور سویدن و تلاش های شخصیت فرهنگی شناخته شده، جناب حبیب الله غمخور راه اندازی شده است.

اجازه دهید سخن را از بخش دوم محفل فرهنگی باشکوه امروز آغاز کنم.

قبل از همه تمنیات نیک خودرا خدمت دانشمند گرانمایه، فرهنگی فرهیخته، نویسنده، مورخ و محقق شهیر کشور، کاندید اکادیمسین اعظم سیستانی تقدیم داشته و هفتادمین سال روز تولد شان را خدمت خودشان، اعضای خانواده و تمام دوستان و علاقمندان جناب سیستانی تبریک و تهنیت عرض می دارم.

سنت بزرگداشت و گرامی داشت از چهره ها و شخصیت های نامدار و بزرگ در سرزمین ما متاسفانه همیشه بعد از پایان حیات پربار آن ها صورت گرفته است و این روند گویای این حقیقت تلخ است که متاسفانه هم نسل ها و هم عصرها به کار ها و کارکرد های نخبه گان و پیشتازان یا متوجه نمی شوند و یا به آن ها کم بها می دهند که در هر حالت ، پدیده ای است نامیمون. یکی از دلایل بی توجهی و بی لطفی به نقش این شخصیت ها شاید ناشی از نارسایی های فرهنگی باشد که تا هنوز جامعۀ افغانی ما در تار و پود آن دست به گریبان است و تلاش برای رهایی از آن آغاز شده است.

در جوامع متمدن پیشرفته سنت بزرگداشت به هر دو دوره، دوران حیات و همچنین بعد از مرگ نخبه گان و نوابغ تعلق می گیرد. بعضا غرض تشویق و ترغیب سایر استعداد ها و نسل های بالنده جوایز و محافل معینی به صورت متناوب در نظر گرفته شده و از کارکرد و خوب ترین اثار تجلیل به عمل می آید.

جای نهایت مسرت است که این بار مرکز علمی و فرهنگی افغانها در سویدن این ابتکار بزرگ و سنت شکن را در مورد بزرگداشت از چهرۀ تابناک تاریخ معاصر کشور، محترم کاندید اکادیمسین اعظم سیستانی به بهانۀ هفتادمین سالگرد تولد شان به راه انداخته است که امیدواریم این آغازی باشد برای سنت شکنی های مناسب در تمام عرصه های زندگی جامعۀ به عقب نگهداشته شدۀ افغانی ما.

سخن اضافی در مورد آثار، کار های تحقیقی و دیدگاه های دانشمندی همچون اعظم سیستانی ، که در مورد نسل موجود کشور آگاهی کافی دارد و بخصوص که طی دهۀ اخیر استفاده از پیشرفته ترین دستاورد تخنیک اطلاعاتی، کمپیوتر و انترنت کمک شایانی در نشر و اشاعۀ

آثار، دیدگاه ها و اندیشهٔ شان این کار را سهل تر و همگانی تر ساخته است، صلاحیت بیشتر می خواهد که من متاسفانه فاقد آن هستم.
صرف به عنوان یکی از علاقمندان و خوانندگان آثار جناب کاندید اکادیمسین سیستانی توصیه ام به سایر هموطنان و بخصوص روشنفکران رسالتمند کشور این است که در نوشته ها و آثار اعظم سیستانی به یگانه نکتهٔ قابل توجه ای که می توان مواجه شد واقعیت نگری است. هیچ اثر سیستانی را نمیتوانید بیابید که در آن از دیدگاه های تنگ تعصب های گوناگون مروج در سرزمین ما به قضایا نگریسته شده باشد. هر ارزیابی ، ولو انتقادی در مورد اشخاص معین، مستدل و بر مبنای اسناد و مدارک صورت گرفته است.
طول عمر پربار تر و سلامتی و خوشبختی برای دانشمند گرانقدر اعظم سیستانی را از بارگاه خداوند تمنا می نمایم.
مشکل نسل جوان و تربیهٔ سالم آن در محیط غربت یکی از حساس ترین و مرکزی ترین وظایف پدرها و مادرها و مسئولان امور است. جامعهٔ مهاجر افغانی که یکی از جوان ترین جمعیت های پناه گزین در کشور های میزبان است، کمترین تجربه و امکانات را در تشکل کتله پناه گزین افغان و بخصوص در زمینهٔ تعلیم و تربیه نسل جوان و نگهداشت و پرورش فرهنگ میهنی خود ندارد.
با ارزیابی های مقدماتی از وضعیت پناه جویان افغان و برابری آن با تاریخ مهاجرت کتله ای جمعیت های پناه گزین و یا اقلیت های مهاجر سایر ملل که با سیستم استعمار جهانی ارتباط مستقیم دارد ، می توان به متمایز بودن وضعیت جامعهٔ پناه گزین افغان که تاریخ کمتر از سه دهه دارد پی بردو کاستی هاو مشکلاتی را که افغان های مهاجر با آن مواجه اند با استفاده از تجربه، امکانات جوامع اقلیت های مهاجر دیگر و قوانین کشور های میزبان بر طرف کرد.

در حالی که سرازیر شدن سیل پناه جویان از کشور های حوزهٔ جنوب شرق آسیا ، شبه قارهٔ هند ، افریقای مستعمره و حوزهٔ کارابین به همان دوران اوج سلطه سیستم استعمار جهانی در قرن نزده پیوند می خورد ، با آغاز فروپاشی استعمار جهانی و برچیده شدن گلیم حاکمیت کشور های استعمارگر گسترده تر گردیده که به تعقیب جنگ های اول و دوم جهانی و دوران جنگ سرد ویژه گی های نو به خود می گیرد و تا امروز این جریان پناه جویی در سراسر دنیا بنا بر سیاست های نادرست کشور های پیشرفته ادامه دارد. بعضی از این مهاجرت ها مصلحتی و با سنجش های دقیق سیاسی- اقتصادی صورت گرفته است. طور نمونه مهاجرت هفت میلیون هانگ کنگی در آستانهٔ به رسمیت شناختن استقلال و تسلیمی این سرزمین مستعمره در سال ۱۹۹۷ از جانب بریتانیای استعمار گر به صاحبان اصلی آن، کشور چین است که برای جلب و جذب سرمایهٔ مادی و معنوی هفت میلیون چینایی هانگ کنگی به آن ها ویزهٔ اقامت دایمی به کشور بریتانیا داده شد.

بدین ترتیب دیده می شود که اقلیت های مهاجر ملل تحت استعمار و مشابه با آن نه تنها دار و ندار مادی خویش را با خود به کشور های میزبان انتقال دادند ، بلکه فرهنگ و نهاد های فرهنگی خود را نیز به همراه آوردند. هر اقلیت مهاجر همراه با موسسات تعلیمی اختصاصی، عبادتگاه های مذهبی، موسسات فرهنگی و هنری، مراکز تجارتی و اقتصادی و حتی آشپزخانه های خودرا همراه آوردند و نه تنها آنها را حفظ کردند بلکه با رشد نسل جدید خود آن را انکشاف و گسترش بخشیدند. و به مرور زمان کشور های میزبان را که اکنون حیثیت وطن دومی و برای بعضی ها وطن اصلی را کسب کرده اند ، به جوامع کثیرالملل و کثیر الفرهنگ تبدیل نمودند. برای چنین اقلیت های مهاجر دیگر مشکلی به نام تعلیم و تربیه، آموزش زبان مادری، آشنایی با فرهنگ وطن اصلی اصلا

مطرح نیست. در کشور هایی چون بریتانیا حفظ و گسترش فرهنگ بومی اقلیت های مهاجر از جانب دولت تشویق و قانوناً حمایت می شود. بدین ترتیب دیده می شود که این مشکل تنها در برابر آن عده جوامع اقلیت های مهاجر جوان ، چون پناه گزینان افغان قرار دارد که فاقد تجربه، امکانات و زمینه های لازم اند. یکی از نارسایی های ذاتی جمعیت مهاجران افغان این است که بنا بر بحران عمیقی که کشور زادگاه، افغانستان را طی تقریبا سه دهه جنگ داخلی و مداخلات خارجی به تباهی کشانید ، هستی مادی و معنوی آن را برباد داد ، تمام مناسبات و ساختار های زیربنایی و روبنایی اش رامنقلب گردانید. همهٔ این عوامل بالای انسان جامعه و حتی روشنفکران آگاه و متعهد آن اثر بخشیده است که پیامد های آن در زندگی مهاجرت کاملا محسوس است.

اگر گپ را به درازا نکشانیم و موجب دردسر بیشتر شرکت کنندگان محترم نگردیم، طور خلص باید عرض کرد که جایگاه نسل جوان و سوال تعلیم و تربیهٔ سالم آن در شرایط غربت یکی از موضوعات کلیدی مسئوولیت نسل موجود و رسالتمند حلقه پناه گزینان افغان در کشور های خارج است تا با حوصله مندی کامل در تشریک مساعی با سایر حوزه های اقلیت های مهاجر و در مشوره با ادارات محلی ارگان های دولتی کشور های متبوع و قوانین مربوطه، آگاهانه و مسئوولانه ، بدون اتلاف بیشتر وقت، همچون سایر جوامع اقلیت های مهاجر داخل اقدام شد.

موفقیت کنفرانس حاضر را برای تمام شرکت کنندگان آن تمنا دارم.

همایون تاج مدیر مسئوول "محبت" و رئیس انجمن دوستی افغان

لندن ۲۳ نومبر ۲۰۰۶

# د افغان ولس کلتوري ټولنې پیغام

له هیواده بهر او په جلاوطنۍ کې ، د یوې علمي غونډې او سمینار رابلل ، هسې یوه آسانه او ساده خبره نه ده. دا کار ډېرې هلې ځلې ، منډې ترړې او ځان ستومانه کول غواړي. خود کوم مرام له پاره چې دا وارد «دوستۍ فرهنګي ټولنې» د افغاني پوهانو او ذی‌صلاح کسانو، علمي کنفرانس وربللی دی ، په هم‌دغومره زیاته ستومانۍ ارزي.
مونږ ډېري افغانان دخپلو کمکیانو د سمې روزنې په فکر کې یو او دا اندېښنه راسره شته چې نه ویل کېږي دوی خپل افغاني هویت بایلي ، خپله ژبه به هېره کاندي ، دیني او اسلامي ارزښتونه به له یاده وباسي او هم‌دغه شان خپلو نورو ښو ملي او افغاني دودونو ته به یې پام نه وي او تش دومره به وایي چې زمونږ پلرونه افغانان وو او بس.
ددغه علمي کنفرانس لومړۍ او دوهمه برخه ، یوه له بلې زیاته ده. په دوهمه برخه کې چې د هیواد د یوه صادق زوی یعنې کاندید اکاډیمسین اعظم سیستاني دعلمي خېړنو او خدمتونو درناوی کېږي ، دا دهغه حق د پرځای کولو یوه برخه ده ، چې پر مونږ ټولو یې لري. مونږ دلته دښاغلي او منلي سیستاني د پخې لیکوالۍ ، پراخې پوهې ، صداقت او دغه شان نورو ښو او نیکو خصوصیتونو په باره کې ډېر څه ویل نه غواړو ، بلکه دده له پاره د بشپړې روغتیا او اوږده عمر هیله کوو چې تر ډېره پورې مو سترګې دده پر علمي او مستندو لیکنو روښانه وي . که چیرې دکنفرانسویناوې او مقالې وروسته ، نه یوازې په کومه خپرونه کې راووزي ، بلکه په وبپاڼو کې هم نشر شي ، ښه به وي . په دې توګه به ډېري افغانان ددغه علمي کنفرانس له ښو نتیجو ګټه واخلي.

په پای کې د «دوستۍ فرهنګي ټولنې» مشرتابه ، په تیره بیا ښاغلي غمخور ته ، کور ودانی وایو چې دومره ربړ یې ګاللی او یو دغسې مهم کنفرانس یې و ربللی دی.

د افغان ولس کلتوري ټولنه
د مشرتابه جرګه

---

## پیام خلیل الله معروفی

نویسندهٔ پرتلاش و وطندار خیلی گرانقدرم، جناب حبیب الله غمخور !
چنانکه سنت دیرین و پسندیدهٔ ماست، در بدو نامه دعا و سلام تقدیم کرده، سلامت و برومندی شما و اهل بیت شریف و عزیزان را تمنی مینمایم.
نامهٔ پر مهر تان بزبان فرخندهٔ پشتو از طریق ایمیل رسید. با تأسف باید اقرار کنم که بر این لسان زیبا ، که از صمیم قلب دوستش دارم، مسلط نیستم، ازین رو نامه ام را به دری مینویسم. شیوهٔ تدریس غلط در مکاتب باعث میگردید ، که متعلمان زبان پشتو را درست یاد نگیرند. اگر حین امتحانات، در مضمون پشتو نمره های خوب میگرفتم، بخاطری بود ، که از گرامر پشتو بوئی میبردم.
مضامین شما را که بصورت مسلسل در سایت "افغان ـ جرمن ـ آنلاین" و بعض سایت های دیگر نشر میشود ، میخوانم و از آنها لذت می برم. به یقین که این لذت دو چندان میگشت، اگر به کیف و کان و نزاکتها و ظرافتهای لسان پشتو آشنائی بیشتر میداشتم.
تدویر کانفرانسی که بتاریخ 25 نومبر در شهر ملموی سویدن در نظر گرفته اید ، نشانهٔ دیگری از عشق سرشار شما به وطن و فرهنگ مردم

دوست داشتنی ماست. چه خوب است که دو موضوع جالب را درین تجمع پیش بینی کرده اید. هم اهتمام به تربیهٔ سالم نسل جوان افغان و نیز تبجیل از دانشمندان وطن، مایهٔ مباهات است. بسیار مسرورم که در نوبت اول سعی بلیغ تان را به بزرگداشت از شخصیت علمی و مؤرخ برازندهٔ وطن ما ، جناب کاندید اکادمیسین اعظم سیستانی اختصاص داده اید. واقعاً میسزد ، که از این نویسنده ملی و مؤرخ حقپرست افغان هرگونه قدردانی و سپاسگزاری گردد. ایشان عمر پربار خود را صرف علم و خدمت به احفاد وطن و تاریخ افغانستان عزیز کرده و آثار گرانباری به جامعهٔ ما تقدیم نموده اند. آثار ایشان گوشهٔ فاخری از گنجینهٔ فرهنگی ما را تشکیل میدهد.

از دعوت شما یک دنیا تشکر میکنم و سعی خواهم کرد ، که بدون کدام واقعهٔ الهی درین کانفرانس اشتراک ورزم. در غیر آن حتماً مقاله ای خواهم فرستاد ، که در کانفرانس قرائت گردد.

صداع بیشتر را روا نداشته و با تجدید تمنیات بخدا میسپارمتان. خداوند بزرگ مستعان تان باد. با احترام

**خلیل الله معروفی**

برلین ، **25** آگست **2006**

# د هدایت الله هدایت پیغام

محترم غمخور صاحب سلام او درناوی !

ستړي مه شئ !

دومره لوی او دستړیانه ډک، خو ویاړن کار دي پر مخ وواهه او هغه ته دې بیا په بري سره خاتمه هم ورکړه !

د ځوانانو د سالمي روزنې د علمي کنفرانس ښه سازماندهي یادوم.

هغه پراخ انعکاسات یې هم یادوم چې په ټوله نړۍ کې یې انګازې خپرې شوې. دا ټوله ستاسو د نامه او ستاسو د ځغاستو سره تړاو لري او لکه چې ما لا مخکې یادونه کړېوه دا په واقعیت کې ستاسو د ملي هوډ ،ستاسو دافغاني استقامت او مردانه شانه وه چې دا سې پرتمین کنفرانس دي په دا سې شانداره توګه تجلیل کړی او زموږ د ملي شخصیتو درناوی دي هم پکښې وکړ. تاسو ته د دې کار د بریالي انجام په خاطر او د دې ستر او یاړلي ملي کار په خاطر در ته مبارکي وایم. زما د کوچنوټې لیکنې دلوستلو نه چې تاسو د مقالې ارزښت ورکړی وو مننه کوم. لطفاً زما لخوا د ځوان شاعر ښاغلي نیازمحمد عقیل نه مننه او کورودانې ووایاست چې د دې لیکنې دلوستلو زحمت یې ایستی وو .که رشتیا وپوښتې پر دې موضوع ما ډېر کار کړی وو چې باید یوه تحلیلی مقاله ځینې جوړه شوې وای خو لکه چې مې یادونه وکړه جوړ نه وم ، وخت کم پاتې وو په آخري لحظاتو کې رانه ناتمامه پاتې شوه. ما د هغه نه یو پیغام جوړ کړ او تاسو ته مې در ولېږه. خو په هر حال زه به یې خاکه تکمیله کړم او بیا به یې که ژوند باقي وو د روزګان د دریمي ګڼې د پاره در ولېږم.

غمخور صاحبه تاسو ته لا د نورو زیاتو بریو هیله کوم.

خدای دي په ساړه باد مه وهه ! په درناوي ، هدایت، **2006.11.29**

انجنیر شیر ساپی - جرمني

# دځوانانو سالمه روزنه پایداره هڅې غواړي

د ځوانانو قوت ، دغه باروړونکی، قوتناک اود زورښتن چې د تاریخ حامل اوباور دی ، د بشری نسل طبعي او منطقي تسلسل ، د تکامل په بې انتها افق کې بشری ټولنه پر مخ بیایې ، غښتلی بازو او پیاوړی مغز یې دټولنې بدلونکی قوت دي.

د هر ملت ځواک او نیرو په همدې ځوانانو کې چې دملا تیر یې جوړه وي پروت دي.

د ځوان نسل سالمه روزنه زموږ افغانانو ته په خاص ډول یو تاریخي ضرورت دی چې دعصر د پوهنې ، فن او ایجاباتو سره ځان اشنا کړو او ګام واخلو ،رڼا په تاریکې کې ځلېږي.

جهل ، تاریکی او ناپوهی هیڅکله پر رڼا او علم بری نه لرله.

په افغانستان کې دښوونی او روزنی د زدکړی بهیر لاهم د خنډونو او مشکلاتونه ډک دي.

د یو ملت مادی جوړښت شاید اسانه وي ، خو دهغه معنوي جوړونه اسان اوساده کار ندي ، یواځی حقیقي معارف او سالمه روزنه کولې شي هغه اباد او تعمییرکړي.

د هیواد څخه بهر د ځوان افغان نسل روزنه په افغانی ممیزات اومشخصاتو نه روزل ددې خطر لری چې په خپل هویت بې باوره شي اوهغه هیر کړی د هغوې نقش او رسالت د پر مخ تلوونکی قوت په توګه زایل شي.

افغان منورین په بهرکې د نړیوال مدنیت "د انترنیت شبکه "کلتوری اړیکو په کارولو سره د ځوان نسل سالمې روزنې ته په دوامداره توګه

تربيـوي او ښـوونيزپرګرامونه پـه وړلانـدې کولـو سـره خپـل ځـان (اولاد اونسل) له حتمي سقوط څخه خلاصوي شي .
پــه ســويدن کــې دعلمــي او ښــوونيز کنفــرانس درنــو ګــډونکوونکو اودکنفرانس سازمان ورکوونکو اوپه خاصه توګه دقدرور غمخورصاحب ! ستاسو شريفانه هڅي او فرهنګي زيـار د افغـان ولـس ويـاړ او افتخـار دی ؛ بری مو په برخه شه
دهيـواد نـامتو څېړونکـي ښـاغلی کانديـد اکادميـسين اعظـم سيـستاني صاحب ته ښه صحت اوږدهٔ عمر او خوشحاله ژوند غواړم .
په درناوی



د کاندیدای اکادمیسین سیستانی د وینا متن:

# جوانان و حق آزادی انتخاب



خانمها ، آقایان وحاضرین گرامی !

از مرکز علمی و کلتوری افغانها درشهر مالموی سویدن، باید سپاسگزار ومتشکر بود که ابتکار تدویر این کنفرانس علمی رابدوش گرفته واز افغانهای مقیم سویدن و اروپا دعوت به عمل آورده تا زیر یک سقف جمع شوند ودر بارۀ یکی از مسایل با اهمیت در زندگی فامیلها یعنی جوانان وتربیت سالم آنان به تبادل نظریات وتجارب همدیگر بپردازند. اهل نظر واستادان وقبل ازهمه والدین محترم جوانان فطرتاً مکلفیت دارند تا توجه شان راپیرامون تربیت سالم فرزندان شان در محیط جدید معطوف

سازند وبادیدی بازتر به نیاز های مبرم فرزندان خود در شرایط کاملاً متفاوت اجتماعی وفرهنگی توجه داشته باشند.
جوانان در هرکشوری ، از جمله ثروتهای ملی وبسیار با اهمیت آن به حساب میروند. اینان آینده سازان جامعه وکشور خود استند.از میان همین جوانان است که مخترعین بزرگ ،سیاستمداران بزرگ، رهبران بزرگ، فلاسفهٔ بزرگ، اندیشمندان بزرگ، هنرمندان بزرگ، تکنیسین های بزرگ، طبیبان بزرگ و انجنیران ومهندسان بزرگ ظهور می نمایند وبا ابتکارات سازنده وسالم خویش راه ترقی وپیشرفت را در جهت فتح قله های ناشناخته می پیمایند.
جوانان نیروی محرکهٔ جامعه اند ، اینان همواره آرزو دارند ،به پیش حرکت کنند وازمرزهای کهنه وسنت های دیرینه عبور کنند وبه عرصه های جدید تری وارد شوند. جدال میان جوانان وبزرگ سالان در واقع جدال میان نو وکهنه است وسرانجام کهنه ناگزیر جای خود را به نو خالی میکند. پس سرکشی وطغیان جوانان از امر ونهی بزرگ سالان،خصلت ذاتی وطبیعی جوانان است و این به هیچوجه نباید به بی احترامی جوانان نسبت به بزرگان تعبیر شود ، این یک پروسهٔ طبیعی ونورمال زندگی است.
باید قبول کرد که جوانان امروز، در شرایط جدید تعلیم وتربیت از والدین مهاجرخود ، هم از لحاظ رشد شعور وهم از لحاظ کسب دانش های معاصر پیشگام تر اند وسطع اطلاعات شان بمراتب بیشتر از والدین شان است، به همین جهت است که اکثراً سخن والدین را جدی نمیگیرند وشاید هم از قبول سخن شان سرپیچی کنند. حال اگر پدری این بی توجهی فرزند را به بی احترامی از خود ودساتیر خود تلقی کند ، واضح است که بین چنین پدر وفرزندی مشکل ایجاد میشود ومسأله به خشونت وجنگ ودعوا می انجامد وحتی به خروج فرزند از خانه منجر میشود.

یکی از راه های جلوگیری ازچنین برخوردها اینست که پدرومادر سطح آگاهی خود را بالا ببرند تا هم محیط اجتماعی خود را بهتر بشناسد وهم فرزند را در درسها وسایر مسایل زندگی کمک کنند ، اما چون پدر ومادرمهاجر در سن وسالی قرار دارند که زبان را مثل فرزندان خود یاد گرفته نمیتوانند ، فرزند به مرور زمان به این نتیجه میرسد که والدینش از محیط جدید اطلاع دقیقی ندارند وراهی را که او انتخاب کرده ، بهترین راه است ولذا میخواهد موانع را از سرراهش دور کند ولو به به خروج او ازخانه منجر شود.بخصوص که ادارات معینی در کشور میزبان به حمایت ازجوانان برمیخزند وفرزند یک پشتی بان جدید از موضع گیری خود پیدا میکند که خود رادر انتخاب راهش محق میداند ،پس اعمال خشونت واخراج فرزند از خانه هیچ درد والدین را علاج کرده نمیتواند.

اکثر مشکلات والدین با فرزند از هنگامی شروع میشود که فرزند پا به سن بلوغ میگذارد و با تبارزحرکات بزرگمنشانه میخواهد که اطرافیانش به او اعتناوتوجه بیشتر بنمایند. سنین ۱۴ تا ۱۸ سالگی یکی از حساس ترین دوره های بلوغ وتبارزشخصیت فرزندان است. طرز برخورد والدین با فرزندجوان شان در این مرحله میتواند یا سازنده ویا تخریب کنندۀ روابط آنان باشد. والدین باید متوجه باشند تا این شور وشوق فرزندان را در جهت معقولی چون ورزش وسپورت وزیبائی اندام ونواختن موسیقی وآواز خوانی ونقاشی ومطالعۀ کتاب ونویسندگی وسایر سرگرمی های سالم سوق بدهد تا انرژی ایکه در وجود فرزند نوجوانش متراکم شده بصورت درست آن به مصرف برسد. بی توجهی به خواست های جوانان وسخت گیری های بی موجب وحساسیت نشان دادن در برابر حرکات آنان،میتواند طغیان وسرکشی فرزند را درقبال داشته باشد. هفت صد سال قبل مولانا جلال الدین بلخی گفته بود: سخت گیری و تعصب خامی است تا جنینی کار خون آشامی است

به نظرما یکی از راه های رفع مشکل با فرزند نوجوان وجوان، دادن آزادی وحق انتخاب برای فرزندان جوان است که رکن اساسی دموکراسی نیز است. والدین می باید به فرزندان جوان خود به عنوان انسان های عاقل وصاحب شعورنگاه کنند وآنها را واجد حقوق مساوی با خود بشمارند. دراین صورت است که به فرزندان خود احترام قایل شده و به آنها اجازه می دهند تا برای آیندۀ خود ، خودشان تصمیم بگیرند وسرنوشت خود را رقم بزنند. با این کار خودوالدین میتوانند حس اعتماد به نفس فرزندان را تقویت کنند. دادن آزادی انتخاب، یعنی دادن حق انتخاب دوست وهمسر، حق انتخاب شغل وانتخاب محل زندگی (با والدین یا بدون والدین) ، میتواند بسیاری از پرابلم های والدین با فرزندان را حل کند. زندگی کردن فرزندان جدا از والدین ، بهتر از زندگی در خانواده ایست که اکثراً با مداخلۀ خوشوهمراه باشد. در میان افغانها هیچ فامیلی را نمیتوان سراغ داد که در فضای کاملاً بیطرفی وبی غرضی وبی سر وصدا زندگی کند واگر ندرتاً چنین خانوده ای سراغ بشود ، اصلاً مشکلی با فرزندان خود ندارد. بهتر است والدین احساسات فرزندان خود را درک کرده برای شان مجال تبارز شخصیت درمحیط جدید اجتماعی را به نحوی بدهند که باعواطف آنهاهم آهنگی داشته باشد.

۱۳/۱۰/۲۰۰۶ ، شهر گوتنبرگ

# ځوانان او ټولنه

دکنفرانس درنو ګډون کونکو !
دسوبېن د مالمو په ښارکې د ځوانانو د سالمي روزني د علمي کنفرانس درنو برخه والو او وطنپاله افغانانو ته، اوددې علمی ،ادبي او فرهنګي ښوونیزي غونډې و ښاغلو جوړونکو ته د خپل ارادت او اخلاص نیکي هیلي او درناوی وړاندي کوم !
ښاغلي غمخورصاحب چې ددې کنفرانس وجوړېدو او سازماندهی ته وطنپاله او نه ستړې کېدونکې شانه ورکړېده د هر رازي کورودانی او شاباسی مستحق بولم او ددې نیک کار په هکله ورته مبارکي وایم. په داسي ملي او وطنپاله غمخوریو کې غمخور صاحب تل یو مخکښ او متعهده افغان دی، هغوی ته د لا زیاتو بریو هیله کوم . دغمخور صاحب نه مننه چې زمانه یې هم غوښتنه کړېوه د کنفرانس د موضوع په هکله (ځوان نسل او سالمه روزنه) باندي یوڅه ولیکم. اجازه راکړی تر هرڅه دمخه په دې کنفرانس کې زموږ دټولني فاضل او وطنپاله افغان د قلم او پوهي وتلی خاوند ، تاریخپوهه او واقعبینه څېړونکی کاندید اکادمېسن محمداعظم سیستانی ګډون، چې د کنفرانس یوه برخه ددغه پیاوړي شخصیت و ارزښتناکه علمي، ټولنیزو او څېړنیزو کارنامو ودرناوی ته وقف سوېده، دهغه و علمي او اکاډمیک مقام ته خپل دژور ارادت او احترام مراتب وړاندي او دهغوی د باثمره وطنپرستانه هڅو ددوام په امید ددغه عالیقدره انسان د زیات عمر او بریالیتوبونو هیله وکړم.
قدرمنو دوستانو !«ځوان نسل او سالمه روزنه» کوم چې ددې کنفرانس د بحث اصلي موضوع ده، یقین لرم چې په کنفرانس کې به زموږ دافغاني ټولني زړه سوانده او ددې برخي ځانګړي متخصصان او کار پوهان خپلي اکاډمیکه شننی او پراخي تحلیلي لیکني به ورباندي و کړي . هغوی به په

دې عرصه کې هغه ستونزې او امیدونه هم را وسپړي چې زموږ د ګران هېواد افغانستان د ځوان نسل په وړاندې پرتې او دهغوی په ورځني ژوندکې انعکاس پیداکوي. نن سبا دځوانانو اود هغوی د سالمي روزنې بهیر نه یوازې دافغانانو په جګړه ځپلي ، وران او زخمي هیواد کې د مرګ او ژوند مسئله ده بلکه په ټوله نړۍ کې زموږ د پېړۍ یانې دیویشتمې پېړۍ یوه حیاتي غوښتنه هم ده. دغه مسئله دنوې پېړۍ د بوداو نبود ، د هست ونیست هغه مسئله ده چې زموږ دنړۍ وراتلونکي ته لاره پرانیزي او دهغه مسیر ور ټاکي. په واقعیت کې همدغه ځوانان دي چې ددې نړۍ و راتلونکې ته لوری ورکوي . خو په اوسني نړۍ وال روان حالت کې چې دقدرت خاوندان د یکه تازی خواته درومي اود خپل پوځي ځواک په زور د ټولي نړۍ دلاندې کولو نیت لري داسي تلاښ کوي چې د ځوانانوناسالمه کنټرول هم د خپلو اهدافو د تطبیق په خاطر په خپل لاس کې ولري او دهغوی راتلونکې د خپلو ګټو دتأمین لپاره و کاروي . داچې ددغه جدال پای به څه کیږي او د چا په ګټه به تمامیږي دا هغه څه دي چې د همدا اوسه څخه یې د ځوانانو او دهغوی دسالمي روزني و راتلونکې ته یې زیات چلنچونه پرې ایښي دي ! نن دنړۍ ځوانان ددوی دارادې نه خلاف او بېله دېنه چې کومه ګناه یې کړې وي د ټولنیزو بحرانو د رامینځته کېدو له کبله چې دلویو بازیګرانو لخوا پلې کیږي،پښې یې پکښې اخښل کیږي او لویه قرباني ورکوي. ځکه نو نن تر هر څه دمخه، لومړی باید دغه نړۍ واله ټولنیزه معضله تر جدي څېړني لاندې ونیول سي. په عادي حالت کې هم دځوانانو د سالمي روزني ومسئلې ته لږ شاني توجه کیږي او د ځوانانو لوی لښکر دډېرو ناخوالو سره مخامخ دی . زموږ د هیواد په څېر په جګړې ځپلي نورو هیوادونو کې لومړی باید دیوه سوله ایزه ژوند بنیادونه کښېښودل سي او په سوله کې دټولني او د ځوانانو د ژوندکولو د حق درناوی او تضمین وسي. د سولې، ثبات او امنیت ته د رسېدو

شرائط مساعد او هغه وساتل سي وروسته نو بيا د ځوان قشر د سالمي روزني اساسات چې پر ډيموکراتيکو موازينو برابر وي او زموږ ددود اود ستور سره تطابق ولري، عملي ګامونه واخيستل سي.په دې ارتباط هغه څه ته چې ما دلته اشاره کړېده په واقعيت کې دا د هغه ژور تشويش يوه برخه ده چې ځوان نسل يې په موجوده حالت کې لري او عملاً د هري ورځي په جريان کې دهغه سره مواجه کيږي. دډېرو په اند که په دغه موجوده حالت کې د جګړو او کړکېچ مخه و نه نيول سي او د ټولنيز عدالت دتأمين په لاره کې ګټور ګامونه وانه خيستل سي په کورنيو او ټولنو کې به دځوانانو دسالمي روزني په لاره کې جدي ستونزي او خنډونه را پيدا سي او پايله به يې يوه لويه ټولنيزه فاجعه وي . همدا اوس د ځوانانو د ژوندانه په چاپيريال کې دزياتو ناخوالو او د بلاتکليفه اړخونو موجوديت په راتلونکو کلونو کې لا نوره هم ژورتيا مومي او د يوه لوی بحران او ګډوډۍ و خواته ځي. زه يقين لرم چې ددې کنفرانس اکاډميکي شنني به په دې مسير کې د ځوانانو په وړاندي د ستونزو،اميدونو، تاريکيو اوروښنيو په هکله به ډېر ارزښتمنده خبري راپورته او دستونزو دحل لاري چاري به را په ګوته کړي. په خواشينۍ سره زماد ناروغتيا له کبله په دې اړه زما ليکنه پر نيمه لار را نه پاتې سوه خو د کنفرانس په هکله مې دغه پيغام چې ما خپل احساس پکښې څرګند کړلی دی تاسو ته مي وړاندي کړ چې هيله ده زما د صحي معذرت په وجه مې ناغه نکړی.

يوځل بيا تاسو ته ددې علمي غونډې په تنظيم کې تاسو ته مبارکي وايم او ستاسو دهڅود برياليتوب غوښتنه کوم. په درناوی

د ۲۰۰۶ د نوامبر څلرويشتمه

استراليا

# د انسان د تکامل روان پوهنه او د ځوانانو سالمه روزنه

انسان په ژوندکې له بېلابېلو پړاونو تېرېږي او په هر پړاو یا مرحله کې ځانګړي خصوصیات لري او په ځانګړي ډول پرمختګ کوي. د مثال په توګه:
یو ماشوم له پیداکېدو وروسته دا کوښښ کوي چې کښېناستل زده کړي، بیا پدې لټه کې وي چې خاپوړې زده کړي، له خاپوړو وروسته غواړي چې دربدل زده کړي او ورپسې دا هڅه کوي چې تلل زده کړي، بیا نو د خبرو کول، لیکل، لوستل، لمونځ کول، منځنۍ زده کړې، لېسه، پوهنتون، ماستري، پ.ایچ. ډي، علمي پلټنې او داسې نور... او یا هم د ټولنې په نورو برخو کې ځان مشغولوي ، لکه بزګري، مالداري، ترکاڼي او...
مطلب دادی چې انسان له پیدا ښت نه تر مړینې پورې د ژوندي پاته کېدو او د ځان د بشپړېدو لپاره زده کړې کوي، زیار باسي او تجربې تر لاسه کوي. انسان که یو کلن وي او که سل کلن د ژوند په هر پړاو کې د رشد او پرمختګ د روان پوهنې ( پسیخولوژۍ ) د علم په مرسته د ژوند ډېرې ستونزې حلولای شي. انسان د مور او پلار د واده له شپې نه چې البته ثمر لرونکې وي بیا تر مرګه ځانګړې روزنې او پاملرنې ته اړتیا لري. طب پوهنې او تجربو دا له ډېر پخوا نه په ډاګه کړې چې ماشوم د مور په ګېډه کې تر هر بل وخت نه زیاتې پاملرنې ، پالنې او روزنې ته ضرورت لري. هغه څه چې پر ماشوم باندې د مور په نس کې منفي او مثبتې اغیزې درلودای شي په دې ډول دي:
د مور خوراک، څښاک، استراحت، خوځښت، ورزش، کار، موسیقي اوربدل، ژړا ، خنده ، تشویش، روغتیائي حالت، حفظ الصحه، آب و هوا ،

د مېړه راشه درشه (برخورد) له خپلې ښځې سره، تحصيل، ټولنيز چاپېريال، مادي او معنوي ستونزې، سن و سال او داسې نور...
که مور له يوه بوټي ښايسته ګلان غواړو نو هر بوټی ددې کار لپاره پالنه غواړي، په همدې ترتيب که مور غواړو چې سالم او استعداد لرونکي ماشومان ولرو نو ميندې ئی پوره پاملرنې او پالنې ته اړتيا لري، البته ددې ټکو په ډېر پراخ، انساني او طبي مفهوم سره.
اوس راځو يو بل ډېر ارزښتناکه موضوع ته، هغه دا چې په اټکلي ډول په ټوله لوېديځه اروپا کې انسان د پرمختګ د روان پوهنې په رڼا کې په نهو پړاونو (مرحلو) کې تر څېړنې لاندې نيول کېږي:
**لومړی پړاو:** چې ماشوم لا پدې نړۍ ستر ګې نه وي غړولي،
**دوهم پړاو:** شيدې رودونکي ماشومان له پيدا ښت نه تريونيم کلنۍ پورې،
**دريم پړاو:** يونيم کلنۍ نه تر څلور کلنۍ پورې،
**څلورم پړاو:** څلور کلنۍ نه تر شپږ کلنۍ پورې،
**پنځم پړاو:** د ښوونځي ماشومان شپږ کلنۍ نه تر دولس کلنۍ پورې،
**شپږم پړاو:** تنکي ځوانان له دولس کلنۍ نه تر اووه لس کلنۍ پورې،
**اووم پړاو:** ځوانان له اووه لس کلنۍ نه تر دوه ويشت کلنۍ پورې،
**اتم پړاو:** بالغ يا رسېدلي انسانان دوه ويشت کلنۍ نه تر پنځه شپېته کلنۍ پورې،
**نهم پړاو:** زاړه خلک ( سپين ږيري او سپين سرې ) چې عمر ئې له پنځه شپېتو کلونو پورته وي. دا پړاو وېشنه کېدای شي چې يوازې د لوېديځې اروپا لپاره سمه او د پليکېدو وړ وي، خو د افغانستان اويا بلې سيمې لپاره روان پوهان کولای شي د هغې سيمې د ټولو خصوصياتو په پام کې نيولو سره سم خپله پړاو وېشنه منځ ته راوړي، خو ددې طبقه بندۍ لپاره د پام لرنې وړ ټکئ دا دئ چې په هره علمي څېړنه او پلټنه کې منځنئ حد (

اوسط ) د معیار په توګه منل کېږي او د پلیکډو کېږي اغوندي ، ځکه چې ماشومان او تنکي ځوانان په یو ډول وده او پرمختګ نه کوي. د ځوانانو د روزنې لپاره د نومول شوو پړاونو څخه شپږم او اووم پړاو خورا د اهمیت وړ ګڼل کېږي، ځکه چې د هغو تنکیو ځوانانو او ځوانانو په تکامل او روزنه بحث کوي چې عمرونه ئې د اټکل له مخې له دولس نه تر دوه ویشت کالو پورې وي. افغان ځوانان په ټول ټال او په اروپا او شمالي امریکا کې په ځانګړي ډول له یو شمېر ستونزو سره لاس او ګرېوان دي. زموږ ځوانان له دوه ګوني کولتور سره مخامخ دي، ددوي تابعیت دوه ګونئ دي، ددوي فکري طرز دوه ګونئ دي، ددوی عادتونه او صلیقې دوه ګونې دي، ددوی سپورت، موسیقي او نورې سرګرمۍ هم دوه ګونې شوېدي، په تعلیمي موسسو کې یو څه، کورنۍ کې بل څه او په بهر چاپېریال کې بیا نور څه اوري اوویني. نو همدا سبب دي چې ځوانان د ژوند په دوه موازي کولتوري او فرهنګي لارو روان دي، او زموږ توقع هم له دوی نه هر وخت دا وي چې دا دوه موازي او له تو پیرونو ډکې لارې یو بل سره قطع نکړي او دا دروند پېټئ موږ یوازې د دوی په اوږو وراچولئ دي. د ژبو، مذهبونو، د کوربه ټولنې سیاسي، اقتصادي او فرهنګي توپیرونو د دوی کورنئ، تعلیمي او تولنیز چاپېریال دومره ستونزمن کړئ چې کله ناکله حتا په دوه لبارې ( دوراهي ) کې دربدلو ته مجبور شي او نه پوهېږي چې په کومه لاره لاړ شي. خو افعان ځوانان د خپل استعداد او افغاني دود سره سم ددې ټولو توپیرونو او ستونزو په وړاندې په ټینګه سره مقاومت کوي او تل ئې هڅه کړې چې هم خپل افغاني ارزښتونه او اندازې ( نورمونه ) وساتي او هم د کوربه ټولنې ارزښتونو ته درناوئ وکړي او د اینتیګرېشن په پروسه کې په کیفي ډول عملي ګامونه پورته کړي. راځئ چې د نمونې په توګه یو بل نه پوښتنه وکړو چې موږ د ځوانانو سره حتا د خپلو اولادونو سره څومره درسي مرسته کړې، څومره مو د هغوی پاملرنه فرهنګي چارو ته

راګرځولې، ځومره مو اسلامي ښوونه ورکړې، څومره مو خپله مورنۍ او پلرنۍ ژبې ورزده کړې، ایا ورزش او موسیقۍ ته مو هڅولي؟ ایا کله مو د دوی په خوښه سندرې اورېدلي او یا مو تلویزیون لیدلئ، کومه ورځ موږ یم ته ورسره تللي یو ،څومره مو د انسان له ابتدائي اناټومۍ سره اشنا کړي، زموږ تنکي ځوانان د خپل بدن په غړو او د هغوی په دندو نه پوهېږي. زما په هاند چې زموږ ماشومان او تنکي ځوانان ښېله سترګو، پزې، خولې او غوږو بل څه نه پېژني. وروستۍ پوښتنه داده چې په کال کې څو ځله موږ او تاسې د خپلو ماشومانو سره ژوبڼ ( باغ وحش ) ته ځو، د څومره ځارویو نومونه مو ورښودلي دي، څومره ځاروي ئې په ژوندي ډول لیدلي نه په عکسونو کې. زه فکر کوم چې ډېرۍ تنکي ځوانان درې حیوانات خر، سپئ او غوئی ښه پېژني ځکه چې له موږه هره ورځ دا درې کلمې په خپله پته اوري. نیوکې ډېرې دي خو اړینه دا برېښي چې هم میندې او پلرونه او هم د ښوونې او روزنې ( پیداګوژۍ ) کارپوهان د حل لارې ولټوي ، او د ځوانانو د لا ښې روزنې او پرمختګ لپاره پیداګوژیکې څېړنیزې لیکنې او عملي کار وکړي او د نړیوال جال ( انترنټ ) نه په پراخه پیمانه ګټه پورته کړي. ددې ټولو پوښتنو او نیوکو مطلب دادي چې هر انسان په ځانګړي ډول سره تکا مل او پرمختګ کوي په خاصه توګه تنکي ځوانان چې د دوی هر اړخیزه وده یو له بل سره په هېڅ ډول د مقایسې وړ نده. ددې لپاره چې د ځوانانو په سالمه روزنه کې مو په ښه ډول برخه اخیسې وي باید څو فاکټورونه ( عاملونه ) له یاده ونه باسو ،د هر انسان په تېره بیا د ځوانانو پر تکا مل باندې درې اساسي فاکټورونه ډېره زیاته اغیزه لري، چې عبارت دي له: داخلي، خارجي او خپل ځاني.

**لومړی : د ننه ( داخلي ) فاکتور:** هر ماشوم دې نړۍ ته له خپلو امکاناتو او محدودیتونو سره راځي، یو ماشوم کېدای شي له هره اړخه تندرست او سې ولې بل ماشوم کېدای شي معیوب یا کمزورئ پیدا شي، خو هر ماشوم له

ځانه سره د مور او پلار يو شمېر خصوصيات او استعداد په ارثي ډول راوړي، چې دا دده ذاتي داخلي فاکتور دی چې دده په تکامل کې ټاکونکې اغيزه او رول لري.

**دوهم: باندنۍ ( خارجي ) فاکتور:** هر انسان په يوه ټاکلي چاپېريال کې منځ ته راځي او د ټاکلو شرائيطو لاندې ژوند کوي. نو دغه چاپېريال هم دده په تکامل باندې پوره اغيزه کوي. د مثال په توګه، هغه استعداد چې يو ماشوم ته له پيدا ښته ورکړل شويدي، پدغه محيط کې چې دی ژوند کوي ګټه ورنه اخيستلای شي او که نه؟ ايا د تعليم امکان لري، مور او پلار ئې څه کاره دي، ايا په يوه داسې سيمه کې ژوند کوي چېرته چې په نږدې واټن کې يو منځنۍ ښوونځۍ هم نه پيدا کېږي او که د استقلال يا حبيبې لېسو ته مخامخ اوسي او په شخصي موټر کې مکتب ته ځي او راځي، او داسې نور.... پاته دې نه وي چې د يوګوني او دوه ګوني کولتور اغيزې هم په خارجي فاکتور کې راتلای شي.

له بله پلوه که يو ماشوم د چرنوبل په سيمه کې دنيا ته راغلئ وي ښکاره خبره ده چې د راديواکتيف وړانګې ئې په استعداد او ذاتي خصوصياتو تاثير لري. او يا هغه ځوانان چې په دا راوروسته دريو لسيزو کې په افغانستان کې دنيا ته راغلي چېرته چې نړيوالو زورواکانو د خپلو وسلو د ازمايښت لپاره په پوليګون بدل کړئ او دا دوه وروستيو کلونو کې چې د کوکونارو د بوټي ګواکې د له منځه وړلو په موخه په افغان ولس باندې د ځمکې او هوا له لارې نامعلوم زهرلرونکي مواد چې کېمياوي ترکيب ئې افغاني کېميا پوهانو ته معلوم ندئ ، شيندل کېږي. چې داهم د انسان په روغتيا او ودې باندې د ناوړه او منفي اغيزو سبب کېدای شي.

له دې نه پرته د انسان په ژوند کې ځنې مهمې او بحراني پېښې چې خواشيني او يا خوشالي منځته راوړي له خارجي فاکتور سره مخامخ تړاو لري. لکه نه رغېدونکې ناروغي، د مور او پلار جدا والئ ( طلاق )،د

کورنۍ د غړو مرگ، ژوبله او داسې نور د ځوانانو په روان او پرمختگ کې په لویه کچه بدلونونه منځته راوړي، خو ځنې نورې د خوشالۍ پېښې ځوانان مثبت لور ته هڅوي، لکه د ډیپلوم اخیستل، لومړۍ معاش، د موټر چلولو لایسنس، واده کول، په کور کې د ماشوم زېږېدنه او داسې نور...
په لنډ ډول دا ټول او ډېر نور هغه خارجي فاکټورونه دي چې د ټولو انسانانو او په ځانگړي ډول د ځوانانو په وده او تکامل باندې ښې او بدې اغیزې لري.

**درېیم : خپل ځاني فاکټور :** خپل ځاني فاکټور مانا داده چې خپله راتلونکې پخپله تعینول. یو شمېر ځوانان شته چې د خپل رشد او تکامل لورۍ پخپله ټاکي، د خپل زیار او خپلو هڅو په برکت یو مسلک تعقیبوي، څېړنې کوي، خپل مسلکي مهارت لوړوي، خپله خرچه پخپله پیدا کوي، د واده لگښتونه په خپله غاړه اخلي، او د ژوند په ډېرو برخو کې خپل ځاني دریځ او فکري استقلالیت لري، چې متاسفانه د دې استعداد خدای پاک هر چاته ندی ورکړی. بله خبره داده چې د ځوانانو په روزنه کې باید د هغوی پرمختگ او تکامل په **شپږو برخو** یا اړخونو کې له یاده ونه باسو.

**لومړی : بدني یا جسمي اړخ**

د انسان بدني تکامل د هغه د جسمي او بدني رشد او نمو او یا وروسته پاتېوالي څخه عبارت دي.
دبدن ټول حرکتونه او د ځینو حواسو چې د لیدلو او اورېدلو ( سترگې او غوږونه ) په ذریعه سره سرته رسېږي پدې برخه کې د غور او بحث وړ دي. د انسان د بدن د حرکتونو وده او نمو په دوه ډوله ده:
الف : د غټو حرکتونو وده
د غټو حرکتونو پرمختگ او وده د غړو ( عضلاتو ) په مرسته سرته رسیږي چې د بدن اساسي توازن ( بلانس ) منځ ته راوړي، لکه پښې او

لاسونه چې په کښېناستلو، دربېدلو، خاپوړو او گرځېدلو کې ورنه گټه اخیستل کېږي.
ب: د وړو حرکتونو وده
واړه حرکتونه د لاسو او گوتو په مرسته اجرا کېږي. دا خوځښتونه په زړه پورې خپل ځانگړیتوب لري او د بدن خوځنده ( ډینامیکي ) حالت بشپړوي. د موسیقي آلاتو په غږولو کې، لیکلو، خطاطۍ، نقاشۍ، گنډلو، اوبدلو، زرگرۍ او نورو کې د گوتو او لاسونو حرکتونه خورا اړین او د اهمیت وړ دي. که چېرې د ځوانانو دا ټولو حرکتونو ډېره یا لازمه وده نه وي کړې نو گناه د میندو او پلرونو ده، چې دوی باندې ئې په ماشومتوب کې د گوتو، لاسونو او پښو ځانگړي حرکتونه ندي تمرین کړي، چې کېدای شي په راتلونکي ژوند کې د ډېرو بدني نیمگړتیاوو سبب وگرځي.
په بدني برخه کې یوه بله موضوع چې ډېره پاملرنه باید ورته وشي هغه بیولوژیکي وده ده، په خاص ډول تنکي ځوانان د خپل ژوند پدې مرحله کې بیولوژیکي بنسټیز بدلونونه په خپل بدن کې ویني او حسوي ئې.
د مثال په توگه، د نجونو میاشتنۍ ناروغي منځته راځي، په ټټر کې ئې لوړه او ژوره ( تیونه ) پیدا کېږي.
هلکان هم له جنسي اړخه په ځان پوهېږي، شونډې ئې توربږي، یو ځای بل ځای د پېغلو خواته ورگوري او تخمونه ( سپرمونه ) ئې هم له بدن نه د راوتلو انرژي او علاقه پیدا کوي. د بیولوژیکي تغیراتو سره سم د ځوانانو جلدي ستونزې هم د یادولو او پاملرنې وړ دي. په نوموړې مرحله کې نجونې په ډېره پیمانه د مور او هلکان د پلار پاملرنې او مرستې ته اړتیا لري، تر څو ځوانان له بیولوژیکي او جنسي پلوه ښه او معقوله روزنه او اړین مالومات تر لاسه کړي.
**دوهم: دماغي اړخ**

د انسان دا برخه له دماغي، فکري او حافظوي ودې څخه عبارت ده. او همدا ډول د ژبې رشد هم د دماغي اړخ یوه برخه تشکیلوي، ځکه چې فکرکول او ژبه یو له بل سره ډېر نږدې تړلي دي، فکرکول بې ژبې او ژبه بې له فکرکولو امکان نلري.
تنکي ځوانان د خپل عمر پدې مرحله کې فکري ثبات پیداکوي او غواړي چې هر څه په منطقي ډول وڅېړي او له ځان نه مشرانو سره په بیلابېلو موضوعاتو بحث او خبرې وکړي.مشرانو ته لازمه ده چې د دوي دلیلونه په غور سره واوري او د هغوی ټولو پوښتنو ته په جدي ډول ځوابونه ورکړي او هېڅکله خپله حوصله د لاسه ورنکړي. په دې ترتیب سره باید ځوانانو ته په ثبوت ورسېږي چې دوی هم شخصیت لري ، نظر،وړاندیز او دلیل ئې اوربدل کېږي.
**دریم : ټولنیزه برخه**
په یوه چاپېریال یا ټولنه کې د یو انسان راشه درشه د نورو انسانانو سره – دټولنیز تکامل څخه عبارت دي.
یوازې ځوانان نه بلکه هر انسان باید په ټولنه کې د نورو سره ښه برخورد او دوستانه ناسته، ولاړه زده کړي.
ټول انسانان، په ځانګړي ډول ځوانان باید په ټولنه او خپل چاپېریال کې د نورو خلکو موجودیت تائید او ومني او همدا ډول د ټولنې د نورو غړو لخوا باید دوی د تائید او منلو وړ وي. په ټولنیزه برخه کې د ځوانانو سره د مور، پلار، خپلوانو، ښوونکو او همزولو اړیکي د ټولنیز تکامل او پرمختګ لپاره ډېر زیات ارزښت لري. پدې برخه کې تنکي ځوانان له بل هرچانه زیات له خپلو همزولو او هم ټولګیو سره د اړیکو درلودل مهم او په زړه پورې ګڼي. له مشرانو مور، پلار، کاکا، ماما او نورو څخه د هرې ورځې په تېرېدو خپل واټن زیاتوي. هر هلک کوښښ کوي چې یو ملګرئ ولري او هره نجلۍ پدې لټه کې وي چې ځانته د راز و نیاز لپاره خورلڼه (

خواهرخوانده ) پیداکړي، خو د پام وړ ټکۍ دادي چې تنکي ځوانان په ټولنیزو مناسباتو کې ثابتې او دوامدارې اړیکې نه ساتي، په کور او ښوونځي کې جنګ او جنجال کوي، ډېر ژر د نورو سره مینه او ملګرتیا پیداکوي، او دا ملګرتیا هم ډېره نه اوږدېږي او دا سې نور... چې دلته هم د مشرانو او په ځانګړي ډول د مور او پلار پاملرنه د اهمیت وړده.

**څلورم : شخصي یا ذاتي اړخ**

د انسان شخصي تکامل او وده د هغه د ذاتي هویت، طبیعت، ارادې او شخصیت په جوړولو سره منځ ته راځي. ددې په څنګ کې د انسان د شخصي ارزښتونو ( نورمونو )، شخصي اندازو ( مقیاسونو ) او د ښځینه یا نارینه خصوصیاتو رشد او وده د یو تنکي ځوان په شخصي یا ذاتي پرمختګ کې ستر رول لوبوي. تنکي ځوانان له ذاتي پلوه د خپل شخصیت په باره کې مطمئن نه وي، خپل ځان ورته له نورو مهم ښکاري، یوازې خپل ځان ویني، ځنې وختونه بې تفاوته او سرزوروئ وي او غواړي چې پر هر څا خپله خبره ومني، دا ټول د تنکیو ځوانانو خصوصیات دي ،چې په خپل وخت ئې اصلاح او پاملرنه پکار ده.

**پنځم : احساساتي اړخ**

د احساساتو تکامل د ټولنیز او شخصي پرمختګ سره ډېر نږدې اړیکي لري. د انسان احساساتي تکامل د هغه د ابتدائي باور او مصئونیت د حسونوله پرمختګ او ودې څخه عبارت دي.

پدې برخه کې د مشرانو، ښوونې او روزنې د کار کونکو لپاره یو څو ټکي ډېر مهم ګڼل کېږي:

الف: د ماشومانو او ځوانانو درک او حسونه کولای شي چې وده وکړي ؟

ب : دا حسونه په څه ډول وده کوي ؟

ت : دغه حسونه کومو شرائېطو ته ځواب وبلای شي ؟

**شپږم : جنسي اړخ**

جنسي تکامل د جنسي راشې درشې، بدن او هوسي ( شهوتي ) د نرې اړیکو د ودې او نمو څخه عبارت دئ.
انسان د خپل تکامل په ټولو پړاونو کې د خپل بدن لورې او ژورې ( د بدن جنسي او تشویقي برخې ) د خپل مېتود ، صلیقې او مالوماتو له مخې په مختلفو کچو او ارزښتونو کې لټوي او تر مطالعې لاندې ئې نیسي.
ځوانان باید لازمه جنسي روزنه تر لاسه کړي او اړینه برښني چې تنکي ځوانان د خپل بدن د ټولو غړو په هکله مالومات ولري او په ځانګړي توګه د بدن هغه برخې چې پر جنسي اړیکو باندې په مخامخ یا غیر مخامخ ډول اغیزې لري. که چېرې ځوانان یو ښه او منل شوئ جنسي فرهنګ ولري نو دا ددوی او د هغوی د راتلونکو ماشومانو په روغتیا او سالمه وده کې خورا ډېر مثبت رول لوبولای شي. هیله من یم چې ټولې میندې، پلرونه او ښوونکي د ځوانانو د لا ښې روزنې لپاره په خپلو پیدا اګوژیکو مهارتي مېتودونو کې د پرمختګ د روان پوهنې رول او ارزښت له پامه ونه غورځوي. مننه.
اخځونه:

١. مېتودیکي مهارتونه ( هالنډي ) **A.C.Verhoef**
٢. لومړنۍ زده کړې ( هالنډي ) **M. van Eijkeren**
٣. زمور ښځو ته، انسیکلوپېډیا ( روسي )
۴. پوهنوال ډاکتر نظرمحمد سلطانزئ ځدراڼ ، د چرنوبیل هستوي پېښې شل کلن تلین ( لکچرنوټ )

پای

پوهنمل حاجي محمد نوزادي

# اروپایي چاپيريال اود ځوانانو په روزنه کې زموږ ستونزې

پوهان پر دې خبره یوه خوله دي چه انسان دټولنی محصول دی او د دی دپاره چه دانسان کړه وړه مطلوبه بڼه خپله کړي، باید هغه ټولنه چه دی ژوند ورپکښې کوی انسانی کړه وړه ولری دټولنې دکړو وړو ځانګړتیاوی که دیوی خوا دمحلی شرایطو سره تړاو لری ، خوله بلې خوا پردغسې کړو وړو باندی منطقوی اونړیوال چاپيريال هم په مستقیم اوهم په غیرمستقیم ډول اغیزه لری. ممکن په همدغه دلیل به لوی استاد ارواح ښاد کاندید اکادمیسن محمد انور نومیالې زموږ دځمکی دکرې دپاره دانسانستان دنوم وړاندیز کړیوی. زموږ دګران هیواد افغانی ټولنه هم دنړیوالی ټولنی دیوی برخی په توګه ددغه طبعی قانون څخه لیری ګڼل کیدلای نسی، اوموږ افغانان چه په خپل وار دهمدې ټولنې محصول یو ، ټول کړه وړه مو دنوموړې ټولنې دځانګړتیاوو په لمن کې څپړل کیدلای سی اوبس. که دا اصل په پام کی ونیسو چه حرکت مطلق او سکون نسبی دی اوحرکت بیا په عام ډول دتغیراتو یوه ګډوله وګڼو اوپربنسټ ئی دپدیدو تکامل راوسپړو، پدی خبره به باوری سو چه دتکامل قوس دخپل ګراف په عمومی لین کښې مخ پرلوړه صعودی روان دی. دغه په عمومی توګه صعودی خط بیا مارپیچ ډوله زیګزاګ قدمونه اخلی چه کله به کښته راکوزیږی او کله به بیرته لوړ ځی. دټولنیزو پدیدو په تکامل کښې دزیګزاګ دوری کله دوخت اوږد واټن اوکله بیا هم دکوز راتلو ترنسبتا لنډ واټن وروسته بیرته لوړی خواته مخ نیسی چه دغه دګراف نزولی تګ دټولنې دناخوالو سره تړلې دی چه کله هراړخیز ، کله څوهراړخیز اوکله هم یواړخیزوی. په ټولنیزو پدیدو کښې ترټولو مهم اصل اقتصاد دی چه

دټولنې بیخ جوړښت یعنی زیربنا تشکیلوی. دټولنی ټول سرجوړښت یعنی روبنا دهمدغه بنسټ پرستنو ولاړ دی. له دغه کبله ده چه پوهانو اقتصاد دټولو علومو او ټولنیزو پدیدو موربللې دې. په نړۍ کښی ترجنګونو وروروسته په جنګونو کښی د شکیلوټولنو د اقتصادی پرمختګ دتاریخ شننه دا خبره په نیغه څرګندوی چه دنوموړو ټولنو دا قتصادی ودی چټکیا ترجنګ وروسته دجنګ نه مخکښی وخت په پرتله ځوبرابره جګه وی. ښه بیلګه ئی تردوهم نړیوال جنګ وروسته په لودیزه اروپا کښی دمارشال پلان په تطبیق سره د ازاد بازار دلاری اقتصادی شیرازی او دشوروی اتحاد د پلانیزه اقتصادپربنسټ دهغه هیواد بیساری اقتصادی پرمختګ دی. دا اقتصاد پوهانو په نظر ممکن دغه لاسته راغلې شیرازی دجنګ نه پرته په همدومره موده کښی ترلاسه سوی نه وای. البته ددی خبری مغنا په هیڅ حالت کښی داندہ چه دا اقتصای ودی دګړندی توب پخاطر باید دجنګ هرکلۍ وسې. دا خبره جوته ده چه دجنګ څخه دراپیښو غمیزو او ناورین بشری ناوړې اغیزې چه دجنګی پایلو سره تړاوونه لری، په هیڅ ډول اقتصادی بریاوو سره ئی جبرانول ممکن ندې، ځکه نو جنګ ته باید تل دیوی منفوری او ورانونکی پدیدې په سترګه وکتل سی. دلوړو اړینو څرګندونو وروسته به نو راوګرځو خپل هیواد افغانستان ته، چیری چه پدی وروستنیو نژدی درو لسیزو کښی په یوه یا بل شکل دجنګ اورونه بل دی. دسره اردو دا شغالونکې جنایت سره سم ورانوونکۍ جنګ پر افغان اولس وتپل سو، له دی نه وروسته تنظیمی انارشیو، چور وچپاول اوټوپک ماریو چه څه پاته وه له منځه یوړل اودپاټک بازیو بازار ئی تود کړ. همدغه ناخوالې باعث سوې چه په پایله کښی ئی پر هیواد باندی دمنځنیو پیړیو تورو شپو لمن وغوړوله. ترتنظیمې انارشیزم وروسته که څه هم یو نسبی امنیت ټینګ او د چپاولګرو لوټمارانو لاس دخلګو دمال اوناموس له ګریوانه وخوت، خو دفوندامنتالیزم تر سیورې لاندی دپوهی

او فرهنګ ريښې مخ په وچېدو سوې چه ناوړې اغېزې ئې تردا اوسه پورې نه يوازې دهيواد په ليرې پرتو سيمو کښې بلکه په لويو ښارونو او حتى تر ټاکلې حده په اروپا او امريکا کښې لاهم د افغانى کډوالو ترمنځ د لمس وړدى. زه په دې خبره پوره باورلرم چه زموږ په هيواد کښې هم چه د نړيوال قانون لاندې د نړيوالې ټولنې يوه برخه ده د اقتصادي شيرازۍ چټکتيا به د درو تيرو لسيزو مخکښې په اندول زياتيږې خو د بده مرغه د فرهنګى وروسته پاتې والې د جبرانولو چټکتيا به د اقتصادى ودې د چټکتيا په پرتله ټيټه وى ، مګر په هر صورت به د دا سې زيګزاګونو سره سره خپل صعودى ګراف مخ په وړاندې شړې. دځوان نسل د سالمې روزنې چارى دټولنې د فرهنګ ديوې سترې برخى په توګه زموږ په هيواد کښې د همدغو نژدې درو ناوړو لسيزو د ناخوالو له مخې خورا زيانمنې سويدى چه هيله ده د همدې خبرى څيړل به د ننني سيمينار غوښينه برخه جوړه کړې. دلته مى په اګاهانه ډول د روزنې د کلمې سره يوځاى او له هغې نه وړاندې د سالمې پر کلمه باندې تاکيد وکړ چه غواړم په همدې اړه د درنو پوهانو ، څيړونکو او د ټولو ګډونکونکو پام ودې خبرى ته راواړم چه سالمه روزنه يو نسبى مفهوم دى ، کنه نو ترهغه ځايه چه موږ دلته د اروپا په ټولو عصرى امکاناتو سره سمباله ټولنه کښې اوسيږو او اولادونه موهم ددې ځاى په معيارو سره ډيره سالمه روزنه تر لاسه کوى ، بيانو ستونزې چيرې دې ؟ خبره دا ده چه موږ افغانان يو او د خپلې افغاې ټولنې دغوره دودونو منل سې معيارونه لا اوس هم راته په زړه پورى دى. نو لدې کبله ده چه د خپل ځوان نسل په روزنه کښې دناسالمتوب د نيمګړتياوو سره تشويش لرو. دغه رابلل سوى سيمينارته چه په سويډن کښې افغانانو دعلمې او فرهنګې مرکز په مټ جوړسويدې ، زما په اند به په کار داوې ترڅو درانه پوهان دځوان نسل د سالمې روزنې همدغه نسبى توب په پام کى ولرى او پر داسې متودونو رڼا واچوې چه منځپانګه ئې ددغو ټکيو له مخى بډايه وى.

ددې يادونې څخه مې مقصد دا دې چه زموږ د پاره اوس د روزنې د چارو په اړه د لومړيتوب خبره دلته په اروپا کښې وافغانې معيارونو ته په يو څه نږدې معيار سره د افغان ځوان نسل سالمه روزنه ده. د روزنې هغه توکې چه هلته زموږ په افغانې ټولنه کښې سالمې برخې ګڼل کيږي ، دلته په ټاکلې پيمانه په سالمه سترګه نه ورته ګوري. لدې نه پرته هغه ټولنيز ارزښتونه او وياړونه چه د افغانې ځوانانو په روزنه کښې بايد زياته پاملرنه ورته وسې ، دلته ئې پاملرنې ته نه کافې امکانات سته ، نه کافې وخت او نه هم لازم شرايط. د بيلګې په توګه دا لنډۍ:

که په ميوند کې شهيد نه سوې
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

که چيرې دلته زموږ نوې ځوان ته واورول سې ، هغه به اصلاً هيڅ معنا ورڅخه تر لاسه نکړې. دا ځکه چه د غه د زړه سر ځوان ته نور داسې وياړونه لکه: ميوند ، د وطن ننګ ، شهادت ، دآيوب توره ، د ملالۍ چيغه او داسې نور اوس بې مفهومه اوازونه ګرځې او کرار کرار ورځنې بيګانه کيږي. زموږ نوې ځوانانو ته دلته د مور ، پلار ، استاد او بل مشر مکلفيتونه په ډير ښه ډول ښود ل کيږي ؛ مګر د حقونو په هکله ئې خورالږ خبروي ؛ دوی لاتراوسه ځانونه افغانان بولې اما دوطن مينه ئې هره ورځ داوبو سره ترستونې نه تيريږي. په افغانيت او پښتون والې باندې لږ پوهيږي ، حتی په خپلو منځو کښې دوی په ندرت سره په مورنۍ ژبه خبرې کوی. د هغې پلرنۍ ټولنې ډير ارزښتناک او غوره دودونه دلته پدې شرايطو کښې ورته مذخرفات ښکاري. د اسلام مقدس دين اساسات چه تر ډيره ځايه زموږ دافغانيت او پښتونوالې په زړه پورې برخې ورسره تړل سويدې ، پدې چاپيريال کښې پوره نه مراعات کيږي. موږ کولای سو پدې تړاو نورې ډيرې بې شميره بيلګې يادې کړو. دا ټولې هغه ستونزې دی چه موږ افغانان ورسره دلته دا روپا په پرمخ تلليو ټولنو کښې د ځوان نسل د سالمې

روزنی په هکله لاس او ګریوان یو. ضرور ګڼم ددغو شرایطو سره پدې اړه داسې لارې چارې ولټولې سې چه له مخې ئی دنوموړو دوو توپیرونو ترمیان یو منځنی حد وټاکل سې او په روزنیزو چارو کښی ورنه ګټه واخیستله سی. ماته به دطبعې علومو دیوی څانګې د ماهر په توګه ډیره سخته وی چه دبشری پوهنو دډیرو پیاوړو پوهانو په حضور کښې یو ازمویل سوې او دنیمګړتیاوو څخه خالې د عملې کولو وړ فورمول وړاندی کړم ، خوځان ته به دا جرئت ورکړم ترڅو د نوموړو درنو پوهانو او څیړونکو څخه وغواړم چه د خپلو پخو تجریبو پربنسټ پر یادو سوو ټکیو باندی غور او خبری اتری وکړی. باور لرم لدغې لاری کیدلای سی داسې تزسونه ومنل سی چه له مخې ئی په اروپائی هیوادونو کښی افغانې کلتورې او علمې ټولنې دافغانې ځوانانو دسالمې روزنې په هکله پراخې لیکنې ، لیدنی کتنی او اړین تبلیغات وکړی. پدې توګه کیدلای سی افغانی کورنی، داړوندو اتحادیو او دنوموړی اتحادیو د روزنیزو اسانتیاوو دلاری دافغانی کلتور او منل سوو ارزښتناکو دودونو دساتنی په موخه د نوو ځوانانو و روزنې ته وهڅوی. دیادونې وړبولم چه ددی وړاندیز څخه می مقصد داندی چه دهغو ځواناو دروزنې په هکله به خبری نه کیږی ، کوم چه همدا اوس پخپله په افغانستان کښی دښوونې او روزې دډیرو کمزورو اسانیاوو سره ورځی تیروی. خو پکار به وی چه زیاته پاملرنه په اروپائی چاپیریال کښی د روزنې چاروته وسی. ګرانو د سیمینار ګډونکونکو وطنوالو ! دا وه هغه څو ټکې چه غوښتنه می ستاسی پام ورته راواړوم. په پای کښی غواړم په سویډن کی دافغانو دعلمی اوفرهنګی مرکز د فرهنګپالو او په ځانګړی توګه د محترم حبیب الله غمخور نه زما درابللو پخاطر او هم داچه د سیمینار په جوړولو کښی ئی ډیری ستړیاوې ګاللې ، دزړه د کومې مننه وکړم

پوهنوال رسول باوري

# کډوال ، کلتوري ستونزي او د حل لاري

هر کډوال تن ، کډواله کورنۍ ، ډله یا ګروپ خپل کلتوري شخصیت او ممیزات تر هغه وخته د ځان سره ساتلای شي چي په نوې ټولنه کي ورته د پاشل کیدلو او منلو شرایط او زمینه برابریږي. هغسي چي د کلتوري شخصیت بشپړتیا یې پیرزماني واټن په بر کي نیولی هم هغسې د بلې ټولني په منځ کي د خپل کلتور د پرېښودلو لپاره



زماني واټن اړین دی. د دې سره سره چي په اوښتون او بدلون کي ځانګړتیا او استثنا خپل ځای لري ، خو په ټولیزه توګه د کلتوري شخصیت جوړېدل او بیا د هغه اوښتل زماني واټن ته اړتیا لري ، ښایې دا زماني واټن د یوشمیر کسانو لپاره لږ او د یوشمیر لپاره زیاته موده په برکي ونیسي ، خو دا شونې نه ده چي په ګړیو ، ورځو ، میاشتو او لنډو کلونو کي دا اوښتون په بشپړه توګه پلی شي.

کډوالي د یوې ټولنیزي پروسې په توګه بیلا بیل لا میلونه لري ، خو د کډوالو لوری څرګند دی او هغه د ستونزمن چاپیریال څخه هوسا اوو ډاډمن چاپیریال ته یا په بله وینا د وروسته پاته ټولنو څخه و پر مختللو ټولنو ته لیږد دبدل دي. د همدې ار پر بنسټ هغه هیوادونه چي د ګډوالو

منلو تـه يې زړه کـړي او يـا هـوډمن دي ، هغـوی د نويـو راتلونکـو لپـاره د کلتوري بـدلون او يـا پـه بلـه وينـا د نـوې چاپيـر يـال سره د کډوالو د سمون ځانګړي پروګرامونـه پلي کـوي . د دا ډول پروګرامونو پـه پلي کيـدلو کـي هغه کډوال ډيري ستونزي ګالي چي د خپلي پخوانۍ ټولني او نوي راغلي ټولني تر منځ يې د ودي او پر مختيا واټن زيات وي. د دې لپاره چي پـه دې لنډه ليکنه کي خپلي مـوخي تـه ورسيږم ، غـواړم چي تـر دريـو سر ليکونـو لاندي د کډوالو کلتوري ستونزي را يادي کړم:

**لومړی : کډوال بايد کلتوري بدلون ومني :**

د ا مسله د يوه ټولنيز اصل پـه توګه پـه بـشپړه توګـه د منلـو ده چـي پـه ټولنـه کي د ډيره کيو واکمن کلتور د هغې ټولني لپاره ملي بڼه ځان تـه اخلي او پـه ټولنه کي ميشت لـږه کي د هغـه واکمـن کلتـور پـه منلو او پـاللو اړويـستل کيـږي. دا اړتيـا بـڼـايي د سياسـي ، اقتـصادي او ټـولنيزو څرګنـدو او ناڅرګندو ځواکونو پـه ملاتـړ تـر سره او يـا وتپـل شي ، خو مننونکي يې د فشار او ځواک مخامخ ربړ يا نه شي احساسولای او يايې د درک څرګندولو اړتيا نه وي او د يـوه منلي دود او حکم پـه څير يې د منلو او پلي کولـو وړ ګڼي. د دې بنسټيز لاميل تر څنګ د انسان طبيعي وده او د پرمختيا سره د انسان مينه او ليوالتيا دوهم لاميل دی چي پـه خپل پخواني کلتـور کـي د بدلون راوستلو پر له پسې هڅي کوي، چي هغـه بـه خامخـا د نـوي ټـولني د کلتور سره په تړاو کي وي .

**دوهم : د کډوالو کلتوري ستونزي يوشان نه دي :**

د يـوه تـن کـډوال پـه توګـه کلتـوري سـتونزي ، د يـوې کـورنۍ پـه وړانـدي کلتوري ستونزي او د يوې ډلي او جمعيت په وړاندي کلتوري ستونزي هم د شکل او هم د محتوی له اړخه سره بيلي او ډول ډول دي. کـه پـه يـاد شـويو دريو کټګوريو کي د ځانګړتيا او استثنا څخه تير شو ، مـود او منځـۍ حد پـه پام کي ولرو . د يوه تن لپاره په نوې ټولنـه کي د کلتـوري سـتونزو پيـټـۍ

تر کورنۍ او یوه ګروپ یا ډلې لږ دی. او همدا شان د یوې کورنۍ کلتوري ستونزي د یوې ډلي تر کلتوري ستونزو لږ دي. د دې ستونزي بنسټیز لامیل دادی چي د یوه تن هویت او کلتوري شخصیت په نسبت د کورنۍ او جمعیت کلتوري شخصیت او هویت پیچلی او کثیر البعدي دی ،. ځکه یې په وړاندي ډیري ستونزي را برملا کیږي. یو تن کډوال کولای شي په لږ زغم سره خپل چاپیر یال د نوي ټولني د اصلي اوسیدونکو سره ورته او په یوه رنګ جوړ کړي ، خو دا کار د یوې کورنۍ لپاره ستونزمن دی ، او د یوه جمعیت لپاره تر هغه کورنۍ لا زیات.

**دریم : د مودل کلتوري شخصیت لپاره د ارزښتونو بیلوالی :**

په هر ټولنه کي کلتوري مودل شخصیت شته چي نوی نسل د هغه کرکتر د خپلولو په نیت پټي او څرګندي هڅي کوي. د کلتوري مودل شخصیت کرکتر او معیارونه د بیلا بیلو موسیسو ، ځانګړو ادارو او په ټولنه کي د واکمن اولسي کلتور په مټ ساتل کیږي ، وده ورکول کیږي او د راتلونکو نسلونو لپاره یې محک او معیار ګرځوي. هغه کلتوري مدل شخصیت چي کډوالو په خپله لومړنۍ ټولنه کي درلود ، په دوهمه ټولنه کي وده نه شي کولای ، د دې لامیل هغه ځانګړتیا وي دي چي په لومړنۍ او دوهمه ټولنه کي شته. کډوال په نوې ټولنه کي د مودل کلتوري شخصیت د پیژندلو لپاره اړ دي چي د نوي ټولني ټول مادي او معنوي ارزښتونه وپیژني او د هغو په رڼا کي د ځان لپاره د مودل کلتوري شخصیت کرکتر وټاکي. په نوې ټولنه کي د ټولو ارزښتونو هر اړخیزه پیژندنه او په هغو پوهیدنه هغه ګړلیچنه لاره ده چي پر له پسې طی کول غواړي . د کډوالو لپاره په نوې ټولنه کي د کلتوري مودل شخصیت موندل زیات زماني واټن ته اړتیا لري او لږ تر لږه یو یا دوه نسله په کار دي چي په نوې ټولنه کي هغه ومومي او بیا یې د ځان لپاره معیار وګرځوي.

لنډه دا چي په دې ډول نوري زياتي کلتوري ستونزي د کډوالو په وړاندي شته چي د ټولو سپړنه او يادونه د دې لنډ ي ليکني تر توان ليري ده . او د دې ستونزو څخه د خلاصون يوازنۍ لاره په ورورو د نوي ټولني د واکمن کلتور منل دي او بس . د نوي ټولني کلتوري ارزښتونه نه منل نه يوازي دا چي د کډوالو ستونزي نه شي حلوکولای بلکي د بيلا بيلو برخوردونو او ټکرونو د منځ ته راتلو لاميل هم ګرځي او د کډوالو لپاره مالي ، ټولنيزي او رواني ناوړه ستونزي زيږوي ، چي د مخنوي په نيت يې اړينو تدبيرونو ، ځانګړي مهارتونو او د نوي ټولني دولتي او ټولنيزو ادارو او سازمانو له لوري پيداګوژيکو علمي او هر اړخيزه پلانونو پر له پسې پلي کيدلو ته اړتيا شته .

د کډوالو کلتوري ستونزي يوازي په هغو يادو شويو برخو کي نه شي حل کيدلای ، تر ټولو ارزښتمن اړخ يې پخپله د کډوالو له لوري د دې ستونزو د حل په لار کي په پوهيدلي توګه پرله پسې هڅي او کړني دي چي د نورو دولتي ، ټولنيزو ادارو سره يې يوځای په پلي کولو او منلو ځانونه هوډمن وګڼي . دا چي د کډوالو په تړاو نوري اداري او سازمانو نه د کډوالو د ستونزو د حل لپاره څه کوي او يا څه بايد وکړي ، يوې ځانګړي اکاډميکي څيړني او ليکني ته اړتيا شته ، خو زه په دې برخه کي يوازي د کډوالو له لوري دهغو هڅو او کړو وړو څو بيلګي په ګوته کوم چي د راپيښو ستونزو د مخنوي لپاره يې تر واک او ځواک لاندي دي .

**لومړۍ : د پخواني کلتور د پاېښت وړ برخو درک او د هغو وده :**

د کلتور وده دخپلي اړوندي ټولني د ودي سره تړلې ده ، هغسي چي د ټولنو تر منځ د ودې او پرمختګ اندازه توپير او ځانګړتيا لري ، په هغه پيمانه د کلتورونو تر منځ هم بيلوالی ځرګند او د درک وړ دی . خو يوشمير داسي کلتوري ارزښتونه شته چي په زياتو انساني ټولنو کي سره ورته وي ، د بيلګي په توګه ، د مشرانو درنښت ، صداقت او وفاداري ، د

کار سره مینه او داسي نور. دا او دې ته ورته یوشمیر نور کره وړه زموږ په افغاني کلتور کي هم د ښو کړوړو په معیار او توله تشویق او وده ورکول کیږي . او دادی په دې نوي ټولنه کي هم یاد شوي کره وړه او دې ته ورته نور د درنښت وړ دي. کهوال افغانان او افغاني کورنۍ کولای شي چي د خپل افغاني کلتور داډول معیاري کړو وړو ته وده ورکړي او د خپلو ځوانانو او راتلونکو نسلونو ترمنځ یې د ساتلو او پاینت روحیه غښتلې کړي. خو یوشمیر داسي ځانګړي کلتوري هڅي او کره وړه شته چي د پاینت شونتیا یې په دې نوي ټولنه کي نشته. دا په کورنیو پوري اړه لري چي دا شوني او ناشوني کلتوري کره وړه سره بیل او بیا یې د پاینت ورکولو او نه ورکولو پریکړه وکړي.

**دوهم : پر کلتوري یوځایوالی ( امتزاج ) باور :**

انساني خلاق ذهن د ځان ساتني ، ځاني ودي او پرمختیا غوښتني هڅونکی ځواک دی ، د همدې ځواک په مرسته په نوي ټولنیز چاپیر یال کي د ځان لپاره د پاینت او تطبیق امکانات او زمینه برا بره وي. د کهوالو برخلیک د دې پروسې څرګند ثبوت دی. کهوال د نوي ټولني په کلتوري ارزښتونو ځان پوهول خپله دنده ګڼي د نوي ټولني دکلتور څخه اخستنه کوي او ځان عیاره وي ، دا بدلون په یوه ځل نه شي تر سره کیدلای او له بلي خوا خپل پخوانی کلتور هم په یو ځل نشي پریښودلای. د کهوال په کلتوري کړو وړو کي دبدلون دا لړۍ ورو ورو پلي کیږي ، او د دې پروسې مخنیوی هم شونی نه دی. هغه څه چي کهوال باید ورته پام وکړي او یا یې ومني هغه د کلتورونو ترمنځ دا امتزاج او یوځای کیدلو پروسه ده. پر دې پروسې باور او د هغې منل کولای شي چي د کهوالو زیاتي رواني، اخلاقي او حتی ټولنیزي ستونزي لیري کړي.

**دریم : د بیلوالي او تجرید مخنوی :**

یو شمیر کډوال ښایي داسي وه انګیري چي د نوي ټولني څخه لیري والی او ګوښي پاته کیدل به د کلتوري ټکر د مخنوي لاره وي. او یا به ښایي د نوي ټولني په ځینو کلتوري برخو کي لنډ مهاله او یا هم د نه ګډون پریکړه ګټوره وګڼي. کډوال کولای شي د ځان په اړه پریکړه وکړي ، خو هغه څه چي بې ګټي هڅي بلل کیدای شي هغه د نوي ټولني څخه بیل والی او ګوښي توب دی. د نوي ټولني څخه د کلتوري تفاوت پر بنسټ ځان لیري ساتل او یا کورنی لیري ساتل ، نه یوازي دا چي ګټه نه لري بلکي د بحران تر بریده یې د چاودلو او ورانیدلو شونتیا شته. د دې لپاره چي د داسي بحراني حالاتو مخنیوی شوې وي ، اړینه ده چي د تجرید او ګوښي توب څخه ډډه وشي. خو د دې ټکي یادول هم اړین دي چي د کډوالو لپاره په نوې ټولنه کي د معیاري کلتورپیژندنه او یا په بله معنی د ښو په ردیف کي د منل شویو کړو وړو پیژندل د ویاړمن ژوند بنسټ دی.




د غونډې د برخه والو یو ګډ انځور

شهسوار سنگروال

# ملي کلتور او مورنۍ ژبه

د سویډن د سمینار په اړه لیکل شوې مقاله:
درنو دوستانو: په سر کې اجازه راکړئ چې په لندن کې د افغان ادبي جرګې په استازیتوب تاسو درنو دوستانو ته له درناوي ډکې هیلې څرګندې کړم او په همدې پلمه د هغې خوشحالۍ یادونه وکړم چې په اروپا کې د یوې داسې درنې غونډې له جوړېدو نه خبرېږم چې په خپل ډول کې لږ ساری لري او په ځانګړي ډول د ځان له خوا په ټول درناوي په سویډن کې د افغانانو علمي او کلتوري مرکز او د دوستۍ فرهنګي ټولنې ته، ددې ستر نوښت له بابته مبارکي وو ایم.
دا چې د دې غونډې نوښتګر د ګران افغانستان د قلم د یوه بل مېړه ښاغلي اعظم سیستاني په هاند و هڅو د نمانځنو ویاړ ګټي ، دډېرې ستاینې وړ دي. افغان ادبي جرګه له دوی سره د داسې نورو راتلونکو ناستو په رابللو کې مل ده. دوستانو !
کله چې ما د دغه یوه ورځني سمینار د موضوع ټول سر لیکونه له پامه تېر کړل هر سر لیک یې ځانګړی پاینښت او ارزښت درلود. په همدې هیله مې غوره وګڼله چې د ملي کلتور ویاړونو او د مورنۍ ژبې په ارزښتونو څه ناڅه وغږېږم.
دا چې وایو افغانستان د اریایي توکم یو لرغونی ټاټوبی دی خو له دې سره جوخت دا هم ویلی شو چې لرغونو اریایانو هغه مهال یو پرمختللی کلتور او ډول ډول دودونه او رواجونه لرل چې مونږ په دغه لړ کې ویدي او اوستایي دودونه او سرودونه د بېلګې په توګه یادولی شو.

کـه چېـرې ووایـو چـې کلتـور د یـوه هېـواد د مـادي او معنـوي ارزښـتونو مجمـوعې تـه وايـي نـو افغانـستان خـو د تـاريخ پـه اوږدو کـې د دې دواړو ښېګڼو درلودنکی وو او دی.
موږ نه غواړو چې دلتـه د لرغونـو اريايـانو تـاريخ بيـان کـړو ولـې د بـاختري اريايانو د ويدي او اوستايي کلتور هغه ادبي متون چې له ويـدي سـرودونو او د اوستا له کتاب څخه موږ ته را پاتې دي لنډه يادونه وکړو.
د اوس مهـال لـه پـاره بـه ګرانـه وي چـې مـوږ د انتروپولـوژي پـه رڼـا کـې د وګړپـوهنې ، توکمپـوهنې ، ټولنپـوهنې او نـورو ورتـه څېلويـو لـه مخـې د افغانستان د لرغوني او ملي کلتـور بېلابېـل اړخونـه وڅېـړو خـو د اسـانتيا لپاره به غوره وي چې په لنډه توګه د هېواد د لرغوني کلتور دب دبه اوسني ځوان نسل او راتلونکي پښت ته ورپـه ګوتـه کـړو ځکـه چـې زوړ نـه وي نوی نشته.
د هرې ټولنې په کلتوري ارزښتونو کـې څېـړونکو تـه غـوره خبـره دا بريـښي چـې د موجـوده کلتـور اړيکـه لـه پخـواني او لرغـوني کلتـور سـره څنګـه ټينګولی شي؟ ښايي چې د دې خبرې يو ښـه مېتـود بـه داوي چـې د اوسـني ملي کلتور له لارې ګام په ګام د تېرو کلتورونو پـه لوروخوځېږو. د مثـال پـه ډول موږ د ادبياتو په لرغوني پېر کې ډېرې لرغـونې او اولـسي سندرې لرو چې د لرغوني اريايي پېر له اولسي سندرو سره د پرتلې وړ دي. کـه څـه هـم زمـوږ د ادب يـو شـمېر ملي او اولـسي سـندرې د اسـلام د سـپېڅلي ديـن د خپرېدو پـه مهـال ويـل شـوي دي خـو هغـه شـمېر اولـسي سـندرې او ملـي سرودونه چې د زرتشت د مذهب له وخت نـه مـوږ تـه راپـاتې دي کـه لـه يـوې خوا د بنې او مينځپانګې له مخې ډېر توپير نه لري خو له بلې خوا د لرغـوني ادبي پېر ملي سندرې له لرغونو اريايي سندرو سره چې د بېلابېلـو وختونـو دوه ملي کلتورونه را پـه ګوتـه کوي پيوند هم جوړولی شي چې موږ په دې لـړ

کې د امیر کروړ شعر د بنې له پلوه د اوستا د ؛یشتونو؛ له ځنو برخو سره پرتله کولی شو.
یو شمېر نورو څېړونکو په سر کې اروابناد پوهاند حبیبي او اروابناد استاد روهي په ډاګه دا خبره کړې چې د امیر کروړ ویاړونه د اوستا او ریګویدا له یو شمېر سرودونو او سندرو سره پرتله کېدلی شي. له دې پرته یو شمېر نورې ملي چاربېتې او اولسي سندرې هم زموږ د ادبیاتو په لرغوني پېر کې تر سترګو کیږي چې د لرغوني اریایانو ادبیات موږ ته را په زړه کوي چې موږ په دې لړ کې د ملکیار غرشین او تایمني شعرونه د بېلګې په توګه یادولی شو. له دې لنډې ځرګندونې څخه دې پایلې ته رسیږو چې څنګه کولی شو د خپل ملي کلتور ټولې بنسټې خوندي کړو؟
ولې له دې پوښتنې سره جوخت دا تریخ حقیقت هم هرومرو په زهن کې راګرزي چې ولې د لرغونو اریایانو د شتمن کلتور جنازه خاوروته وسپارل او حال دا چې له آمو نه نیولې تر ګنګا پورې اریایي فرهنګ خپلې اغېزې او ریښې ځغلولې وې. ښایي ډېر لاملونه وي خو زما په اند یو لامل به دا هم وي چې موږ د خپل ویاړلي کلتور په وړاندې بې پروا وو او یو، او که داسې نه وي نو د بېلګې په توګه ولې موږ د یونانیانو مېتولوژي او د بودیزم ایډیالوژي ومنله او خپره مو کړه. خیر که دا مو خپله کړه پایله یې دومره بده نه وه خو دا چې خپله مو هېره کړه د تامل وړ دی. حال دا چې یوناني چارواکو په سر کې د سکندر د تشریفاتو ریس ؛خارس میتي لیني؛ موږ ته خپل ویاړونه را په ګوته کړي دي. نوموړي د یوې کیسې او افسانې په اړه ویلي دي؛ ؛کله چې د یونانیانو لښکرې له ډېرو ستونزو سره سره کابل ته ورسېدې نو یونانیان ډېر ژر د ؛زریادریس؛ او ؛اوداتیس؛ د مینې له یوې خوږې اولسي کیسې سره اشنا شول چې هغه د ښکلې اوداتیس د ساس (ساک) پاچا د لور داستان وو.

دا څومره د پام وړ خبره ده چې بهرنيان زمووږ له اولسي آريايي ادب سره بلد وو او موږ لا د خپل شتمن فرهنګ يوه پاڼه هم نه ده لوستې. ښايي ډېرو به د يونان په ادبياتو کې د :اوديسه او ايلياد ؛ داستانونه لوستي وي چې اوس هم د نړۍ په لرغونو ادبياتو کې يو شهکار ګڼل کيږي. ولې موږ چې د خپل ملي او وياړلي اولسي داستانونو ، کيسو او استورې لرلې چې چې ان د سکندر د مهال چاروا کي پرې خبر وو ، خو له بده مرغه موږ لا په خړو وريځو کې يو تت انځور هم تر لاسه نه کړ.
لرغون پېژندونکي او تاريخ پوهان وايي که چېرې د مينځنۍ اسيا هېوادونه ايران، چين او د هند د نيمې وچې ليکوال او څېړونکي غواړي د خپلو هېوادونو په اړه څه وليکي نو دوی ته پکار دي چې د افغانستان له لرغوني کلتور سره اشنا وي دا ځکه چې افغانستان د ويدي او اوستايي مدنيتونو ځاله وه او هم د ګريکو بوديک د مدرسو ټاټوبی.
همدارنګه د لرغوني افغانستان د لرغوني کلتور شتون هم د چين ، پارس او هندوستان ترمينځ پرتو پولو او ارتو سيمو لټولی شو ځکه چې زموږ يو شمېر ټبرونو په يادو شو هېوادونو ټولواکمنۍ چلولې ده چې د ساکانو ، کوشانيانو او ېپتليانو پېرونه ددې خبرې ښکاره ثبوت دی.
که چېرې د يوې ملي خواخوږۍ له مخې مسلکي او اکاډميک پښت د خپل هېواد او د کلتوري چاپېريال دننه ډول ډول کلتوري ځانګړتياوې په ښه توګه وسپړي او په دې ډول د سيمه ييز کلتور د بېلابېلو اړخونو څېړنه، د بېلابېلو دودونو سيمه ييزې اغېزې ، د استوګن ځايونو ټاکل او بيا د کلتورونو د خپل مينځي اړيکو څرنګوالی ، د کلتورونو د خوربدنې لاملونو او اغېزې او بيا په يوه بشپړ کلتوري چاپېريال کې دننه د پرمختيايي وړتيا وو وبش په پوره ځيرکتيا وڅېړي نو بيا خپل ملي کلتور ښه پېژندلی شي. او د همدې مېتود له مخې د خپل اولس ملي کلتور خوندي کولی هم شي.

مثال که موږ د اوس مهال د ملي کلتور په رڼا کې د بېلګې په توګه د خپل اولس پلکور ته سترکې ور ښکاره کړو او یوازې د پښتو لنډیو یو لنډ جاج واخلو نو بیا پکار دی چې د یو شمېر څېړونکو انګېرنو ته یوه شېبه تم شو:

سپوږمۍ کړنګ وهه را خېژه ــ یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه

ددې لنډۍ په اړه انګېرنه داسې ده چې له نن نه زرګونه کاله پخوا د سپرلي په موسم کې نجونو او هلکانو په ګډه د یوه شربت د جوړولو لپاره د شپې لخوا د هندوکش د غره په لمنه کې یو بوټی ټولوو چې دغه بوټي ته په ویدي سرودونو کې ؛سوما ؛ او په اوستایي متونو کې ؛هوما ؛ وایي چې دا به یې له شاتو او شدو سره کډوه او یوه خوږه او مزه ناکه زوخا به یې ترې تیاروله.

له دې لنډۍ پرته په لسګونو نورې لنډۍ شته چې زموږ د لرغوني کلتور او ټولنیزو مناسباتو یو ټاکلی زمان په ګوته کوي. د مثال په ډول د اسلام د سپېڅلي دین له خپرېدو دمخه د آتڼ د آغاز ې د ؛دله زاکو ؛ د ټبر یوه لنډۍ ګورو چې وایي:

تر مارګلې به درسره یم ــ په هندوستان کې دې په خدای سپارم مینه

او یا د غزنوي سلطان محمود د مهال د هغې مېرمنې لنډۍ چې د لښکر د مشر راتلو ته سترګې په لاره ده وایي:

که د خالو لښکرې راغلې ــ زه به ګوملې ته د یار سلام ته ځمه

له دې چې را تېر شو زموږ د لرغوني ادب په پاڼو کې د یوه نامتو شاعر شیخ اسعد سوري په شعر کې د لرغونو آریایانو یو سپېڅلی دود ګورو چې له نن نه یې تقریبا زر کاله دمخه ویلی دی؛

نه غاټول بیا زرغونیږي په لاښونه ــ نه بامي بیا مسېده کا په کهسار

غاټول او بامي دوه پسرلني ګلونه وو چې پېغلو به د غرو په لمنه کې ټولول. ولې د ؛بامي ؛ کلمه له دې شعر نه ډېره پخوا د اوستا په هغه نسخه کې چې په سمرقند کې تر لاسه شوې ده راغلې او کارل شوې چې: ؛دویشتاسب

زوی په ؛بخل بامیک؛ کې د ؛نوازک؛ په نوم یو ښار جوړ کړ چې ډېر ښکلی وو.؛

څېړونکي کاږي چې بخل نه موخه بلخ دی او له بامي نه موخه بامیان دی چې په لرغونو آریایانو کې دا یوه سیمه وه.

په یادو شو لنډیو او شعر کې مو ولیدل چې د نوي او لرغوني کلتور اړیکه څنګه ښه پیوند شوې ده او دا مو هم ولیده چې یوه ژبه د کلتور په خوندي کولو کې څومره رول لري؟ نو که چېرې دا سې وایو چې ژبه د فکر مستقیم واقیعت دی خو ورسره دا خبره هم نه هیروو چې ژبه د کلتور د انتقال وسیله هم ده. ولې کله چې ژبه مړه شي د ملي کلتور جنازه هم د پردیو په اوږو تورو خاورو ته سپارل کیږي. ددې خبرې د ثبوت لپاره موږ ډېر مثالونه لرو د ساري په توګه ؛اریک؛ د اریایانو لرغونې ژبه وه چې له د بنه زېږېدلې ژبې اوستا، سنسګرت، پښتو، فارسي او نورې ژبې یادولی شو. خو څکه چې اریک ژبه مړه شوه نو زموږ د لرغوني کلتور ډېرې ښېلګې خاورو ایرو وخوړلې او که د روایتونو له مخې د کیسو او افسانو په بڼه موږ ته څه را پاتې هم دي کلتوري او فرهنګي ځلا یې ډېره تتنه ده. همدا ډول کله چې د اوستا او سنسګرت ژبې مړې شوې د اریایي تېر ډیره لویه کلتوري شتمنۍ له مینځه لاړه او خدای مه کړه که اوس موږ خپلو ژوندیو ژبو ته پاملرنه ونه کړو نو د تېرو ترخو تجربو له مخې ویلې شو چې موږ به د ملي کلتور یوه بله لویه شتمنۍ هم له لاسه ورکړو. اوس چې هغه شمېر افغانان له هېواد نه بهر د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې مېشت او ودان دي له دې ستونزې سره لاس او ګرېوان دي. ګورو چې د ډېرو افغمانو په کورونو کې د دوی مورنۍ ژبه مړه شوې ده او که مړه ژوندۍ هم وي خو له لیک او لوست نه ولېدلې او د ځنکدن وروستۍ سلګۍ یې د ژبې په سر دي. ددې لپاره چې له دې ملي ناورین او راپېښې غمیزې نه ځان وژغورو نو د خپلو وړاندیزونو په دغو ټکو ټینګار کوم:

۱- ددې لپاره چې په بهر کې مېشت افغانان او ځانګړي ډول ماشومان او تنکي ځوانان له دې ملي کلتور نه پردي او بېګانه نه شي لومړی پکار دی چې خپه مورنۍ ژبه خوندي کړي او د نن په څېر غوندې جوړې شي او هغه ستونزې او نیمګړتیاوې په ګوته شي چې افغانان ورسره لاس او ګرېوان دي.
۲- د هېواد د ملي او تاریخي ورځو نمانځنه او په دا ډول نمانځنو کې د ماشومانو او ځوانانو ونډه باید په پرتلیزه توګه د پام وړ وي چې موږ د ګران افغانستان د خپلواکۍ جشن ، د نوي لیږدي لمریز کال نمانځنه، د لوی او کوچني اختر مذهبي دودونه د بېلګې په توګه یادو.
۳- د امکان په صورت کې د کورسونو او ښوونځیو جوړول او بیا د کلتوري ټولنو لخوا د یو شمېر داسې کسانو رابلل لکه په اروپا کې مېشت استادان ، پوهان او ښوونکي چې د کوریطلم او تعلمي نصاب له چارو سره بلد وي تر څو افغان کډوالو ته یو ښوونیز او روزنیز درسي متود چې د دیډکتیک او میتودیک د اصولو لارښود وي ورغاوي چې له یوې خوا زلمیان او تنکي ماشومان خپله ژبه هېره نه کړي او له بلې خوا د خپل هېواد له ملي کلتور او ویاړلي تاریخ سره اشنا شي.
۴- کله چې ماشومان او ځوانان له ښوونځیو او پوهنځیو نه کورته راځي پکار دی چې مور او پلار اولاد سره پخپله مورنۍ ژبه خبرې وکړي او د پلکوریکو کیسو او اولسي افسانو له لارې د خپل هېواد د ملي کلتور ښېګڼې ورته ور په ګوته کړي.
۵- په اروپا او لویدیز هېوادونو کې د افغانانو د کلتوري ټولنو له خوا د مشاعرو جوړول اړین ځکه بریښي چې د شعر ژبه په اوربدونکو په ځانګړي ډول په ځوانانو ژر اغېزه کوي او ښه به وي چې ځوانان په کې ډېره ونډه واخلي. په درښت

ولي شاه طبيب/کندهار

# ایا زموږ ټول دودیزاو کلتوري توکي مثبت اوبهرني ټول منفي دي

په دي به ټینګارنه کوو چه زموږټول دودوونه اورواجونه ښه او مثبت دي ،کیدای سي چه لوستونکي سمدستي په قهر او غصه سي چه داڅه وایي ؟ موږخونورهم کوښښ کوو چه خپل رواجونو اودودونوته نوره وده اوپراختیا ورکړو ،زه هم همدغه خبره په لړ څه توپیر سره کوم چه هو ګټور رواجونه او دودونه باید نورهم پرمختګ اوپراختیا ومومي ،اوهغه رواجونه چه دکورنۍ ټولنیز او اقتصادي بهسټ دګواښ سره مخامخ کوي دهغو په ترک کولو کښي هلي ځلي وکړو ، یوڅو مثا له راوړم: مثلا دواده بي ځایه مصارف ،چه نن سبا خو دامصارف ډیر ملا ماتونکي دي، په ودونو کښي داسي بي ځایه سیالۍ رواني دي چه سړي ورته دحیرت ګوته په غاښ نیسي. دواده ډوډۍ داسي تهیه کیږي چه دزوم دکورنۍ دډیر مادي تاوان باعث ګرزي ،مثلا دناوي کورني ډیر داسي کسان دعوتوي یاخبروي چه هغه کسان بیا دخپل زوي په واده کښي نه خبروي ،ځکه چه دلور په واده کښي خو دبل چا پیسي مصرفیږي.

دواده دمخه نور دودونه دي ،مثلا دپنځلسي یا برات اواخترونو کښي دنجلۍ لپاره کالي چه په کندهار کښي ورته جوړه وایي استوي ، په ناوي پسي لنده میوه استوي ،زوم مجبوره دی چه ښه ډیره زیات ډول ډول میوي دنجلۍ کورته واستوي دنجلۍ والدین بیا دامیوه په کلي کوڅه اودوستانو ویشي. شیریخ په دوبي اوپالوده په ژمي دنجلۍ کورته استول کیږي اوبیانو په محل کښي ویل کیږي چه دپلانۍ په لور پسي دومره ډوله شیریخ یا دومره شمیر کوارچي میوه راوړي وه اویا دروژه ماتي استول

دنجلۍ کورته ،دلته یوازي او یوازي یو هدف نغښتي دی ، هغه دا چه دنجلۍ دمور او پلار سترګي لوړي وي. دهلک دکورنۍ په وس او توان کښي ځوک چورت نه وهي چه هغه بیچاره به دادومره مصارف دکومه کوي. دامعلومه خبره ده چه هغه به پوروي او که کوم جایداد ولري هغه به په لړه بیه پلوري اویا په ګروي ورکوي. دولور خبره لا پاته ده چه اکثره نجوني دپلار په کورزړي شي ،کومه نجلۍ باندي چه مور او پلار زیات ولور اخیستی وي نو دهغي بیچاره نجلۍ ژوند ډیر خراب وي ، خسرخیل دناوي سره ښه ګذاره نه کوي. دنجلۍ لپاره دسروزرو زیورات او دواده درانه مصارف خو هرچا ته معلوم دي پورته رواجونه که چیري په معقول ډول اجرا سي یعني دافراط څخه کار وانه خیستل شي او دکورنیو دتاوان او زیان باعث ونګرزي نوبیا خوښه دي چه اجرا سي. رواجونه او دودونه دوخت په تیریدو سره هم تغیر کوي ،مثلا زما ښه په یاددي کله چه موږماشومان وو نو په هغه وخت کښي زموږپه کورکښي چه به په سروري چارشنبي دخیرات په موخه به دیکچه پخه سوه نو ماښام به زموږدوستان او ګاونډیان ددیکچي دخوړلو لپاره راتله ، زماښه په یاددي چه لوی توردیکچي دیګ به پرنغري پروت وو اودوستان به پرراګرزیدلي وه اود دیګ څخه به یې دیکچه په کا چوغه خوړله ،دوخت په تیریدو سره دارواج بدل سو چه دوستانو ته دیکچه په غابو کښي کښیښنودل سي اودوهم بدلون پسله دوودروکالو داو چه موږبه دیکچه په غابو کښي پرکورو ویشل. دلته مثبت تحول داو چه په دیګ کښي ددیکچي خوراک دصحي سببه ښه نه و. که چیري موږ دارواج تحلیل کړو نو به مثبت او منفي اړخونه دواړه پیدا کړو ،داچه دیکچه ولي په دیګ کښي خوړل کیدله کیدای سي په هغه وخت کښي دومره غابونه به نه وه چه په رشتیا سره هم نه وه ، او یا کیدای سي په دي کښي بل راز نغښتیر وي ، په دیګ کښي ددیکچي خوړل دوستان او ګاونډیان مجبوره کول چه دکوربه کورته ورسي چه دکورنیو راټولیدل ،او

راشه درشه دایو ښه رواج وو چه دوستان به سره راټولیدل. کلتور او رواجونه دچاپیریال له اغیزي څخه ساتلي نه دي برعلاوه دچاپیریال تکنالوجي او پرمختګ هم پر رواجونو اودودونواثر کوي ،پخوا چه به کوم دوست ناروغه سو نو دوستان به حتما پوښتني ته ورتلل اودناروغ سره به یي مخامخ پوښتنه اوګروېږنه کوله خو اوس ټیلیفون یوه وسیله سوه چه دناروغ پوښتنه وسي بیله دي چه ناروغ دنژدي څخه ولیدل سي. زموږ په افغاني ټولنه کښي د اسلام د پاک دین په رڼا کښي دوالدینو خدمت کول یولویه فریضه داولادونو ده ، حال دا چه په غرب کښي اولادونه په میاشتو خپل مور او پلار نهویني ، مور او پلار دزړو خلکو لپاره داوسیدلو و استوګنځیو ته سپارل کیږي او حتي په مړینه یي هم اولادونه او دوستان نه خبریږي. په غرب کښي مینه او محبت نه سته ،که چیري دوه ورونه پسله ډیرو کلونو وویني نوپه یو هاي یي سره خلاصه کړي.

زموږ په ټولنه کښي که چیري کوم څوک مړ سي نو یو اوږد ماتم اوغم رامنځ ته کیږي فاتحه څوورځي دوام کوي ، هغه څوک چه بیا دفاتحي لپاره راځي نو هغه بیا عزت هم غواړي خصوصا ښځي چه ورځي ورځي دماشومانو سره دفاتحه لرونکي پرکورناست وي اوعزت اوحرمت هم غواړي. په هغه کورني کښي چه مړی سویوي نو تریوه کاله پوري په هغه کور کښي ښادي منعه ده ، حال دا چه دمذهبي نګا څخه داډول ماتم ښه نه دی ، خو په غرب کښي بیا ددي سرچپه حالت دی چه مخکي موږ ویل چه بعضا دوالدینو په مړګ اولادونه نه خبریږي غم او ماتم خولا پریږده

خولنډه خبره داده چه دهري ټولني رواجونه سره بیل دي ،او هري ټولني ته خپل کلتور ګران دی.

د مالمو د ښار د هیلې **Hyllie** د ناحیې د رئیسې ان شمید د وینا متن:

# Ungdomskonferens i Hyllie stadsdel

Malmö stad har under hela 1990-talet och början av 2000-talet betecknas som ett av landets mest utsatta och segregerade städer. Regeringen har därför under de senaste åren satsat på att tillskjuta extra medel till vissa utsatta områden , bl a i stadsdelen Hyllie (Storstadssatsningen år 2000-2006). Utmärkande för dessa områden är bl a hög andel arbetslöshet, segregerade skolor samt följdverkningar av utanförskap.

Under de s k storstadsåren satsade stadsdelen Hyllie framförallt på att hjälpa vuxna arbetssökande till arbete och studier som skulle leda till självförsörjning. Inom skolan utvecklades modersmålsbunden undervisning och studieverkstäder samt föräldramedverkan direkt i klassrummen. Inom programområdet demokrati och delaktighet satsades en del av storstadsmedlen på olika projektidéer från etablerade och från nystartade ideella föreningar, vilka framförallt arbetade med barnens, ungdomarnas och de invandrade kvinnornas förhållanden.

Ett ungdomsråd har startats upp och är fortfarande aktivt med nya generationer ungdomar. Ungdomsrådet vänder sig i första hand till pojkar och flickor i 14-18 års ålder och är ett forum där ungdomarnas egna frågor kan bearbetas och där även möten med stadsdelspolitiker är möjliga för att kunna föra fram förslag och synpunkter.

När det gäller de stora övergripande problemen som arbetslöshet och skolsituation har stadsdelen nått vissa framgångar under årens lopp.

Däremot återkommer problem med och kring successiva generationer av ungdomar i dessa områden. Det har under

åren visat sig, att dessa sociala problem inte går att lösa ”en gång för alla” utan nya generationer ungdomar blir utsatta för nya risker och kan falla in i negativt beteende. Ett **Boendedialogmöte** i januari 2006 resulterade i det särskilda programmet ”Trygghet i området”.
Föreningar i området har varit och är aktiva för att arbeta och verka i förebyggande syfte
vad gäller ungdomar. Det finns även ett antal vuxenföreningar som arbetar aktivt för att
ungdomar ska få en trygg och stabil uppväxt. Ett exempel på detta föreningsarbete är den konferens/det seminarium som anordnades av Afghanska Akademiska föreningen 25.11.2006 , där vuxna och ungdomar av olika nationaliteter samlades under ett veckosluts-seminarium för att diskutera och mobilisera kring frågeställningar om vikten av att ungdomar söker sig till högre utbildningar och stöds i detta av sina föräldrar/familjer.
Ett stort antal boende i området var samlade till seminariet och många tillresta förläsare
fanns med vid arrangemanget som anordnats och arrangerats av föreningen via Habib Ghamkhor.

Anne Schmid Behrens
Verksamhetschef
Arbete & Integration
Hyllie SDF

د حبیب الله غمخور پرانیستونکې وینا :

# کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني
# د یو منلي تاریخ پوه په حیث !



درنو حاضرینو !

یو ځل بیا هم تاسو درنو مېلمنو ته د زړه له کومې هرکلی وایم.

په سویډن کې د افغانانو علمي او فرهنګي مرکز ویاړ لري چې نن یې یو ځل بیا د خپل هېواد د یوه وتلي لیکوال او تاریخ پوه کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستاني د علمي خدمتونو په مناسبت غونډه جوړه کړېده.

زموږ لپاره د خوښۍ ځای دی چې نن تاسو درووند مېلمه او ستاسو د کورنۍ غړي، ستاسو د علمي کارونو مینه وال فرهنګیان او فرهنګپال پدې تالار کې ستاسو پر شاوخوا وینو.

دوستان و مهمانان گرانقدر !

تشریف اوری شما دوستان بل خصوص فامیل محترم سیستاني صاحب را در این محفل با شکوه که به افتخار نویسنده و مورخ کشور ما برگذار میگردد خیر مقدم میگویم.

اغلو او ښاغلو !

دافغانانو علمي اوفرهنگي مرکز هڅه کړې چې دخپلو امکاناتو په چوکاټ کې دافغانستان دملي کلتور ژوندي ساتلو او ځوان نسل دخپل هیواد د ملي او تاریخي تحولاتو او تغیراتو سره په تړاوکې دساتلو په موخه یو شمېر علمي او فرهنگي غونډې او محفلونه جوړکړي دي ، دلته یوه ملي ، مذهبي او تاریخي ورځ بېله یادونې او لمانځنې نه ده تېره شوې ، پدې کې موږ دوې موخې لرو:

یوداچې خپل اصیل افغاني کلتور ، دود او رواج ژوندی وساتو ، اوبل دا چې غواړو ځوان نسل مو د افغاني کلتور ، دود او دستور نه بېگانه نشي. همدلته غواړم یو ټکی په گوته کړم چې زما هدف له نړیوال بهیر څخه دافغانانو گوښه ساتل نه دي ، بلکه هر قوم مسؤلیت لري په بهر او هیواد دننه کې دخپلې ټولنې مثبت او معقول عنعنات ، رواجونه او کلتور ژوندی وساتي ، تر څود ځوان نسل اړیکي له پلارني ټاټوبي سره پرې نشي.

ددې درنې غونډې دجوړېدو موخه مو هم همدا ده چې یو خو مو دمحترم کاندید اکادمیسین اعظم سیستاني څه ناڅه حق اداکړی وي او دهغه دعلمي او فرهنگي چوپړ قدر داني شوې وي او له بلې خوا ځوان نسل پدې پوه شي چې ، که دگوتو په شمېر دي ، خو بیا هم لیکوال او پوهان لرو ، او د افغانیت دا دستور دی چې دخپلو مشرانو اوپوهانو درناوی په ژوند او پسله مرگه وشي.

درنو فرهنگیانو او فرهنگ پالو !

هغه څوک چې نن یې دسویډن دمالمو په ښارکې دعلمي او څېړنیز چوپړ ددرناوي په خاطر دا درنه غونډه جوړه شوې ده له نن څخه نږدې اویا کاله

پخوا دې نړۍ ته پداسې کورنۍ کې چې لږ مځکه یې درلوده سترګې پرانستي دي.
ښاغلی سیستانی په ۱۹۳۷ م کال دمارچ په میاشت کې دنیمروز ولایت اوسېدونکي شیراحمد په کورنۍ کې پیداشو ، دنیکه نوم یې محمد یوسف خان بارکزی دی.
ښاغلي سیستاني لومړني تعلیمات دنیمروز په ولایت کې تر سره کړه، پسله هغه یې دکابل دارالمعلمین تر پای ته رسېدو وروسته دکابل پوهنتون دادبیاتو او بشري علومو د پوهنځ د تاریخ اوژورنالیزم په رشتو کې لسانس ترلاس کړ.
په ۱۹۶۶ کال کې له فاکولتې څخه فارغ او دښوونکي په توګه مقرر شو ، بیا دنیمروز د ((ابوداود سجستانی)) دلېسې مدیر شو ، له څه مودې وروسته دنیمروز او بیا د هلمند ولایت د ښوونې او روزنې د مدیردمرستیال په توګه دنده ترسره کړېده. پس له هغه نه کابل ته ولاړ او هلته د کابل ننداري دتیاترد مدیر په توګه مقررشو ، پدغه وخت کې چې ښاغلي سیستاني هلته کار کاوه خپل استعداد یې دډرامې لیکلو په ساحه کې وازما یه ، او څلور ډرامه د "ضربهٔ سوم" ، "رسوائی"، "پشیمان"، او "مځکې" تر عنوانولاندې ولیکلې اوننداري ته وړاندې شوې ، دغو ډرامونو دکابل د ښار لخوا زیات استقبال شول.
د ۱۹۸۰ کال په لومړیو وختو کې یې دافغانستان دعلومو داکاډمۍ داجتماعي علومو مرکز دتاریخ او اتنو ګرافي په انستیتوت کې دنده تر لاسه کړه. هلته ښاغلي سیستاني یومهم تحقیقاتي کتاب د "مالکیت ارضي وجنبش های دهقانی در خراسان قرون وسطی" تر عنوان لاندې تالیف او دافغانستان دعلومو داکاډمۍ له خوا خپورکړ چې دروشنفکرانو توجه یې راواړول او ښه استقبال شو.

په ۱۹۸۶ م کال ښاغلي سیستاني د خپلو ابتکاري او تحقیقاتي کارونو په پایله کې د هغه د علمي اثارو تر ارزیابۍ وروسته د افغانستان د علومو د اکاډمۍ لخوا ورته د کاندید اکادمیسیني علمي رتبه ورکړه شوه.
نوموړي د ۱۹۶۲ - ۲۰۰۶ کال پورې د تاریخ، جغرافې، د ټولنې د اقتصادي مناسباتو، د افغانستان د ښځو اجتماعي، حقوقي او ټولنیز حالت او نور تاریخي مسایلو په برخه کې (( ۲۴ )) څېړنیز کتابونه لیکلي او چاپ کړي دي چې د هغې جملې څخه یې (( ۱۰ )) کتابونه په سویډن کې لیکلي او چاپ کړي دي، نور دوه کتابونه یې تر چاپ لاندې دي. د افغانستان پر مختلفو موضوعاتو باندې یې تر سلګونو زیاتې مقالې لیکلې چې زیاتره برخه یې د افغاني فرهنګي ټولنو د نشراتو یا انترنت پاڼو پوسیله لوستونکو ته وړاندې شوي دي.
ښاغلی سیستاني په ۱۹۸۶ کال د افغانستان د علومو په اکاډمی کی د اجتماعي علومو د مرکز د رئیس په حیث وګمارل شو چې د ۱۹۹۲ کال ترلومړیو میاشتو یې د غه دنده پر غاړه درلوده.
کله چې دولتي واګې تنظیمي ډلو تر لاسه کړې سیستاني صاحب هم د نورو روڼ اندو او پوهانو په څیر د هیواد پرېښودلو ته مجبور شو، د ۱۹۹۵ م کال راپدې خوا د سویډن د ګوتنبورګ په ښارکښې ژوند کوي.
سیستاني صاحب متاهل دی، دوه زامن او څلور لوڼې لري چې ټوله پس له خپلو زده کړو اوس کارکوی او هریو خپل مستقل ژوند لری.
کاندید اکادمیسین اعظم سیستانی له ۱۹۶۴ م کال نه تر ۲۰۰۶ میلادی کال پوري زیات شمیر څېړنیز او علمي اثار لیکلي او چاپ کړېدي. په کنفرانس کي د وخت د کمښت له امله د هغو د نومونو له یادونو ځکه ډډه کوم چې د کنفرانس په پیل کښې موږ په ځانګړو پاڼو کښې مکمله بیوګرافي توضع کړېده.
اغلو او ښاغلو !

که د افغانستان دا ورستی څو سوه کلن تاریخ ته نظر واچوو دا به راته څرګنده شي چي په رښتیا سره زمونږ هیوادوال که په توره تورزن وه اودي ، خوله علم او پوهي نه لیري ساتل شوي دي. کورنیو او بهرنیو دښمنانو يې هم دا درک کړې وه که دا ولس دعلم او پوهي څښتن شي دنیا به پر دابل مخ راواړوي ، د دي خبري څخه زما هدف دخبري منفي اړخ نه دی بلکه دا پدې مفهوم ده که افغانانو دزیاتو هیوادو په څیر دعلم او پوهي پرمختګ ته مخه کړی واي اوس به یې دنړۍ په یوه سیمه کښي هم ساری نه واي.
تاسو وګورئ ! کله چې افغان زلمو ته لږ امکانات برابر شوی دي دوي په نړئ والو سیالیو کښي لومړۍ او یا دوهم مقام تر لاسه کړیدی، که دا نړدي پنځو کلو ته پاملرنه وکړو په هغه هیوادکښې چي دولسمشر له کورنه پرته بربښنا دڅو ساعتو لپاره دکابل ، هرات ، مزار ، ننګرهار ، کندهار اویوڅو نور دګوتو په شمار ښاریانو کورونه روښانه کوي ، اویا که بیا ټول هیواد وال په نظر کي ونیسونو زمونږ هیواد دنړې لومړنئ هیواد دی چې دبریښنا دانرژۍ داستعمال نه محروم دی. مګر بیاهم زمونږ زلمي په کمپیوټر ، اویو شمیر نورو ورځنیزو تخنیکي توکو په اړوند که دنړئ د هر ګوټ په سیالیو کښي افغان زلمي برخه اخیستې نوسرلوړۍ راغلی دي.
زمونږ هیواد دنړۍ یو له پخوانیو هیوادو څخه دی دتمدنو ځانګو وه ، مګر که دعلومو په ټولو برخو کښي مړه او ژوندي عالمان وشمیرو نو شمیر يې ایله سلو تنو ته رسیږي. له هغه نه چي دا ستعمار کلیمه دخلکو پر ژبه شوې دنړۍ دنورو هیوادوولسونو دمروجه علومو وزده کړوته مخ اړولی له بده مرغه زمونږ په خاوره کښي دعلم او معرفت پر خلاف په ټول توان او طاقت دمخالفت تبلیغ شوی دی.
نه غواړم له موضوع نه لیري ولاړ شم او هغه بدمرغئ راوسپړم چي لامل يې زمونږ دهیواد والو نالوست توب او دګوتو په شمیر پوهانو درلودل دی. غواړم دغه ټکې ته اشاره وکړم له دغو یادشویو ستونزو او ډول ډول

کړاونو او مخالفتونه سره که دګوتو په شمار پوهان لرو خو په سیمه کښې بې ساري دي ، دبیلګې په توګه دنیمروز د ولایت د یوځوان په هکله چا فکر کاوه چي هغه دي دهیواد دیوه پېژندل شوی علمي شخصیت په توګه دقلم په مټ اوزور دهیواد دملي ارزښتنو څخه دخپلو نیکه ګانو په دود ددفاع په سنګر کښې اوچت ښکاره شي.

درنو دوستانو !

شپږ کاله پخوا دمالودښار فرهنګپالو افغانانو په مرسته اوزیار دهیواد دیوبل سرکښ شاعر او سیاستوال مرحوم ګل پاچا الفت په یاد غونډه جوړه شوه، پدغه غونډه کښې کاندید اکادمیسین اعظم سیستاني هم برخه درلوده. له هغه ورځي بیا تر اوسه زه له ده سره داړیکو او تماسونو افتخار لرم ، زمادفرهنګي کارونو دهڅولو له لومړنیو کسانو څخه دی اوماته دعلمي رهنما او استاد حیثیت لري.

دبېلګې په توګه یادولای شو ، کله چې سیستاني صاحب دورځي په نیمایي کښې نوې هیله تر لاسه کړي نو هرومرویې دشپي تر اتو بجو راته تلیفون کړی ، دګڼې مثبت او منفي اړخونه اوحتا دتوروچاپي غلطئ یې راته په ګوته کړي دي. پدي پوره باورلرم چې نه یوازي زه یم چې هغه ته دانشریه لیږم ، نوروهیوادوال هم خپلې نشریي ورلیږي ، ځکه سیستاني صاحب دمهاجرت په کلو کښې نه یوازي کتابونه لیکې بلکه دهیواد نه بهر زیات شمیر اونیزي اومیاشتنۍ دهغه دقلمي همکارۍ ویاړ لري. پر دې ټولو سربیره دهغو نږدې اړیکو له مخي چي زه یې ورسره لرم داراته څرګنده شوې ده چې په افغانانو پوري مربوط اکثره انترنت پاڼې هم ګوري او له نظره یې تیروي ، دتیروتنواو عمدي دښمنیو په روحیه دلیکل شوو مقالو په مقابل کښې په ډیر وژرو علمي دلایلو ځواب لیکي. همدا دلیل دی چي یوشمیر وطن دښمنه عناصر دسیستاني استعداد ، قلم اوپوهه نشي زغملاي نودلیونو په دود په چټیاتو خوله خلاصوي.

سیستاني صاحب په خپلو لیکنو کښې دافغاني ټولني تاریخي واقیعتونه راسپړلي او هیواد والوته یې دهغو ښه او بد اړخونه واضح کړیدي.
سیستاني دیو تاریخ پوه په توګه هغه رسالت چې پرغاړه لري تر اوسه په ګړندی توګه ، په زیاته میړانه او امانت داری سرته رسولی دی. په تاریخ لیکلو کښې دپېښو پر څېړلو هغه پر یوه یادومأخذو اکتفانده کړې دموضوع په هکله یې مختلف نظریات اندونه او وړاندیزونه بررسي او تحلیل او د پېښو حقیقت او څرنګوالی یې تشریح کړی دی.
دافغانستان او مهاجرت په شرایطو کښې د(( ۲۴ )) کتابو ، (( ۷۱ )) رسالو ، بې شمیره مقالو لیکل له هیواد او هیوادوالو سره دهغه دبېساري علاقي روڼه بېلګه ده. زه په هیڅ وجه ځانته دا اجازه نه ورکوم چې دښاغلي سیستاني صاحب پر اثارو بحث وکړم ، تنها دده دلیکنو دعلاقمند په توګه ځانته داحق ورکوم وو وایم: که د سیستاني صاحب اثار مطالعه شي هغه په خپلو لیکنو کښې څو ټکو ته چې دلوستونکی لپاره ارزښت لري ستاسو پاملرنه را اړوم:
۱- پخپلو لیکنو کښې یې زیار ایستلی چې تاریخي حوادث داسي وڅېړې او لوستونکي ته وړاندي لکه چې تیر شوي وه. یعني یو بې پري او ریالست لیکوال دی.
۲ - په خپلو لیکنو کښي د ساده او عامیانه اصطلاحاتو او لغاتو داستعمال نه کار اخلي تر څو په هر ه سویه لوستونکی وکولای شي ګټه ځیني واخلي.
۳ - دتاریخي حوادثو په وړاندي کولو کښي لوستونکی وطن پرستۍ ، ملي ګټو او نوع پرستی ته هڅوي.
۴ - که یې اثار او مقالې دقیقي ولوستل شي داسي څرګند ېږي چې په نړۍ کي بشري روابط ، راکړه ورکړه دانساني چاپیریال ټول اړخونه په رڼو سترګو ګوري ، د ژوندي حقایق که تر خه او خواږه وي تر لوستونکی پوري

رسوي. واقیعت دادی چې تر اوسه د سیستاني قلم او دتولنیز چاپېریال دودیزه، فرهنگي او سیاسي فضا یو دبل په مقابل کښې زور سره وهي.
۵ - سیستاني په خپلو تاریخي اثارو کښې زمونږ دهیواد او ټولنې ډیر تاریک او یا هیر شویو مسایلو څېړلو او لیکلو ته پاملرنه کړیده، هغه داسي علمي لیکني کړي چې تر اوسه بل تاریخ پوه او لیکوال لخوا نه دي شوي دبېلگې په توگه د: «شیوه های بهره برداری از زمین و آب در افغانستان قرون وسطی» ، مناسبات ارضی و شیوه های برخورد به مسأله زمین و آب درافغانستان دهه های ۷۰ و ۸۰ قرن بیستم، رستاخیز قندهار و فروپاشي دولت صفویایهٔ ایران، یک نگاه انتقادي بر جلد اول ودوم افغانستان در مسیر تاریخ، خیزشهاي مردم قندهار، هرات، سیستان، علامه محمود طرزی و نقش او در احیأ جنبش مشروطیت و استقلال افغانستان، او داسي نور اثارو نومونه یادولای شم.
۶ - سیستاني یوله هغو تاریخ لیکونکو څخه دی چې دافغاني ښځو دژوند ډول او زمونږ دهیواد په تاریخ کښې یې دهغوي قهرماني له نظره نه دي غورځولې، دهغوي دحقوقو دکلک ملاتړی او مدافع په توگه یې یو شمیر مقالې لیکلې او پدي ورستیو کلو کښې یې یو باارزښته کتاب د(( سیماي زن افغان در تاریخ )) په نامه چاپ شو، تر کومه ځایه چې ماته معلومه ده پدي لار کښې په نورو څېړنو هم مصروف دی.
۷ - په خپلو لیکنو کښې دریالیزم، دقت اوزړورتیا او له تعصب نه خلاص دریځ دمسلک پیروي کوي. پدي ورستیو کښې دجنگسالارو، دروغجنو قهرمانانو، دافغانستان دنامه ددښمنانو، او پاکستان دمداخلو او دواړو هیوادو تر منځ د تاریخي لانجې دحل په هکله یې نظر او دریځ دافغانانو لپاره د ویاړ خبره ده. که سیستاني صاحب پدي ملامتیږي چې یووازي دپښتنو او پښتون قوم نه دفاع کوي، او یادافغان او افغانستان له نامه نه تیریږي دا شخصي سمپتي نه بلکه دادهغه علمي

دریځ دی چې دهیواد دیوه عالم او تاریخ پوه په توګه یې باید ولري. هغه په خپلو زیاتو اثارو کښې دهیواد دټولو پرتو قومونو ، ژبو او مذهبونه دفاع کړې ده دهغو قومونو مربوط کسانو کارنامې یې ستایلي او خیانتونه یې رټلي دي. داچې پدې وروستیو کښې څو دګوتو په شمار کسان دچار چاپیر ګاونډیانو داستخباراتي شبکو، بنسټپالو ګوندونو او نورو ډلو ټپلو په هڅونه دهیواد د غوڅ اکثریت پر خلاف سپکې سپوري په مجلو ، ورځپاڼو او ځینو انټرنټ پاڼو کې لیکل کیږي ، تاریخ واقیعتونه تحریفوي ، دروغجن او ناروا تبلیغات کوي ، غواړي په خپلو دغو ناوړه او افغان دښمنه هڅو او تلاښونو وروڼه قومونه یو دبل په مقابل کښې راوپاروي تر څو ددوي وبهرنیو بادارانو ته زمورږ په هیواد کښې دهرډول لاس وهنو او سیاست ددکتې کولو امکانات برابر شي.
ښاغلی سیستاني دیوه عالم او تاریخ پوه په توګه دامسؤلیت اورسالت لري چې هرڅه وسپړي او حقایق هیوادوالو اونړیوالو ته څرګند کړي ؛ پدې اساس په ځغرده ویلاي شم چې د سیستاني دا ډول ملي او علمي دریځ دمنفي ملي ګرايي معنا نلري ، دا ملي دریځ دی ، دخپلو خبرو دپخلي لپاره دومره ویلاي شم کـه دډلـه ایزو رسنیو ټولـو ډولـو (شفاهي او چاپي) تبلیغات وخبړو دابه راتـه څرګنده شي چې پـه هیـواد کښې دټولـو پرتـو قومونـو غـوڅ اکثریـت ددغـو سیاسـي تـاجرو سـره هـم نږغـی نـدی.
